## محسن

### د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۲۳

# محسن تفسير

## له قرآنه يو څرک

### ۱. د «حمد» سورة

Ketabton.com

ليک او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناس سورة تشريح

ليک او څېړنه:

احمد حسين عنايت

بسم اللّه الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين اللّه په نامه

سورة الفاتحه

## د حمد سورة (۱)

**سريـــزه:** د «حمــد» ســورة مکــي دی چــې (۷) آيتونــه يــوه رکــوع لــري، پــه تــلاوت کــې لــومړی او پــه نــزول کــې پــنځم ســورة دی د «مــدثر» لــه ســورة څخــه وروســته نــازل شــوی دی. ددې ســورة نــوم «حمــد» دی چـــې د هغـــه لـــه دويـــم آيـــت څخـــه اخيســـتل شـــوی دی، څرنګـه چـې د قـرآن پـه پيـل کـې ځـای لـري، دې سـورة تـه «ســورة الفاتحـــه» يـــا فاتحـــة الکتـــاب هـــم وايـــي. ددې ســورة نــور نومونه هم شته چې تر ديرشو نومونو پورې ګڼل شوي دي.

دا سـورة د بعثـت پـه ډېـر ږومبـي پـړاو کـې نـازل شـوی دی. بلکـې له ډېرو معتبرو روايتونـو څخـه څرګنـديږي چـې دا سـورة تـر ټولـو ږومبنـی بشپړ سـورة دی، چـې پر رسـول اکـرم(ص) نـازل شـوی دی، تـر دې مخکـې يـوازې ېېـل ېېـل آيتونـو نـازل شـوي ول چـې د علـق سـورة، مزمـل سـورة، او مدثر سورة او په نورو سورتونو کې شامل دي.

«بِسْـــمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» چې د قرآن د ټولو ســـورتونو په پيل کې ليکل کېږي او د قران عظيم الشـــان هر ســـورة پرې پيل کېږي د لومړي ځل لپاره ددې سورة سره مل د هغه د پيل آيت په توګه نازل شوی دی او د سورة الفاتحه د اوه ګونو آيتونو څخه د يو آيت په توګه ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې په نورو سـورتونو کې د آيتونو په لړ کې نه ګڼل کېږي. دې سـورة ته په قرآن کې «ســـبع مثاني» هم ويل شـــوی او پر پيغمبر اکرم (ص) د قرآن تر څنګ د ځانګړې او خپلواک نزول په عنوان مطرح شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سورة د منځپانګې چورليځ او

## له ورپسې سورة (بقره) سره يې اړيکه:

د حمد او بقره دوو سورتونو تر منځ د اړيکې او هم غږۍ تشريح له يو اړخه آسان دی او له بل لورې ناشونی چار دی، دا ځکه چې:

لومړی سورة په ډېره لنډيزه او مؤجزه بڼه ټول قرآن په خپل ځان کې نغاړلی او خلاصه کړی او هغه آيتونه يې د هغو اړوندو بندونو په عنوان په ځانګړې او ځپلواکه توګه د قرآن عظيم الشان تر څنګ ذکر شوي دي: «وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ» [حجر۸۷(۱۵:۸۷)]. او په تحقيق تاته مو «سبع مثاني» [= د حمد سورة له هغو پخپلو کې اړوندو او يو بل ته د سريزې په توګه تکرارېدونکو آيتونو سره] او قرآن عظيم در کړ.

او دويم سورة چې د قرآن تر ټولو مفصل او پراخ سورة دی. او د لومړي په نسبت ډېر ستر او د هغه کابو دوه سوه چنده حجم لري.

آسان دی له دې لامله چې د حمد په سورة کې ټولې مطرح شوې موضوع ګانې د بقره په سورة کې له ډېر تفصيل سره مونډل کېدی شي، او ناشونتيا يې له دې لامله ده چې د داسې اجمال د تفصيل درک او پوهه، د قرآن پېژنې او پوهنې د واقعي او ريښتينو وړ او قابلو، پوهو او اهل کسانو کار دی. خو که غوښتې مو وي، په سطحي او ظاهري توګه او د خپل ناقص او نيمګړي فهم په بريد کې، ددې دوو سورتونو له يو بل سره د څنګ په څنګ ځای نيولو حکمت او د هغوی تر منځ د اړيکې او نښتلو وجه ومومو، چې له لومړي سورة څخه ورپسې سورة ته د بحث د محور غځوونکی دی، بايد د هغوی تر منځ مشترک فصل ته يوه کتنه وکړو.

د حمد په سورة کې د هاغه خدای له ستاينې وروسته چې د عالميانو پالونکی څښتن دی او د عام او خاص رحمت خاوند او د جزا د ورځې مالک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، له هغه سره ژمنه، تړون او پيمان کوو چې يوازې هغه ونمانځو [هغه ته مطلق تسليم او مطيع اوسو نه نورو ته] او يوازې له هغه مرسته وغواړو، په عوض کې ترې غواړو چې موږ «صراط المستقيم» ته «هدايت» کړي، د هاغو کسانو لارې ته چې هغوی ته يې نعمت ورکړی [لکه: پيغمبران، صديقين، شهداء او صالحين] نه تر غضب لاندې واقع شوو [لکه يهود] او نه د لار ورکو [لکه نصارى].

په دې ترتيب د لوستونکي په ذهن کې ددې سورة وروستی انځور د «هدايت غوښتنه» ده. د بقره سورة کې خدای تعالی پرته له کوم ځنډه پرله پسې دې غوښتنې ته ځواب وايي او هغه لار او طريقه يکې څرګندوي، او وايي؛ چې هدايت څنګه موندل کېږي.

دا کتاب چې په «حقانيت» کې يې هيڅ شک او ترديد نشته، دا هماغه هدايت دی [چې تاسو يې غواړئ] په دې شرط چې تقوی ولرئ «ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ.» [بقره۲(۲:۲)]. دا کتاب چې [د خدای کلام دی] په دې کې هيڅ شک نشته، متقيانو [او پروا کوونکو] ته هدايت کوونکی [او راهبر دی] دی.

د تقوا ډګرونه او زمينې هم دا ډول شرح کوي:

۱ – ايمان په غيب [له خپلو عيني او علمي مشهوداتو پورته په حقيقتونو باور کول]

۲ – د صلوة اقامه کول [د دنيائي اربابانو پر ځای خدای تعالی ته مخ کول او پر خپل ځان نه مغروريدل او نه تکيه کول].

۳ – له روزيو انفاق کول [ د سختی، امساک، دنيا پالني، خسيس توب او ځان غوښتنې پر ځای].

۴ – پر ټولو هاغو څيزونو چې پر پيغمبرانو نازل شوي ايمان درلودل [د نورو شريعتونو له متدينينو سره د ديني تعصب، رقابت او دښمنۍ پرځای].

۵ – پر آخرت يقين کول[د دنيا پالنې پر وړاندې] ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورپسې زياتوي دوی د ربوبي هدايت پر لار دي او واقعي رستګاران او بـريالي دي «أُولَئِكَ عَـلَىٰ هُـدًى مِنْ رَبِّـهِـمْ وَأُولَئِكَ هُـمُ الْمُـفْلِـحُونَ.». [بقره۵(۲:۵)]. دوی د خپل پالونکي څښتن له لورې پر هدايت [روان] دي او همدوی ژغورل شوي بريالي دي.

همدا راز د بقره سورة په متن کې يې «مغضوب عليهم» او «ضالين»؛ چې معمولاً ويل کېږي يهود او نصارى دي، په تفصيل معرفي کړي او د هغوی نېک او بد خصلتونه يې د مؤمنينو د عبرت لپاره شرحه کړي دي.

که د قرآن سورتونه پر دايروي ليکه ځای پر ځای شي د حمد له سـورة څخه مخکې د ناس سورة چې د قرآن د پای سورة دی ځای نيسـي نو پر دې ترتيب پر دايروي ليکه د حمد له سـورة څخه مخکې د ناس سـورة دی، نو که په ځير ورته پاملرنه وکړو؛ د قرآن لومړی سـورة [حمد] د «ناس» له سـورة سره هم يوه ظريفه او غوريالې اړيکه لري، چې د وينا چورليز يې، په هر دواړو سورتونو کې د خدای تعالى پر ربوبيت، الوهيت او مالکيت څرخي؛

د ناس په سورة کې: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. مَلِكِ النَّاسِ. إِلَهِ النَّاسِ....

او د حمد په سورة کې: «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ...».

په دې ترتيب د قرآن کريم پيل او پايله له يوه حقيقته خبره کوي چې؛ خالص «توحيد» دی، او د الوهيت، ربوبيت او مالکيت پر محور څرخي.

د حمد سـورة په حقيقت کې يوه دعا ده چې خدای تعالى يې هر هغه انســان ته ور زده کوي، چې غواړي دا کتاب پيل کړي او له دې کتابه د هدايت موندلو په بهير کې، ودې او تکامل ته ورسېږي. انسان فطرتاً د دعا په توسه هاغـه څه غـواړي چې په جدي توګـه اړتيا ورته لري او لـه هاغه چا يې غـواړي چـې د ورکـړې؛ اختيار او صلاحـيت ولري. نو قرآن په پيل کې ددې دُعـا په تعليم ورکـولو سره ګـواکې انسان ته دا تلقين ورکـوي چې هغه دې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب د سمې لارې د لټولو لپاره ولولي، او دا زده کړي چې د علم او آګاهۍ سرچينه «رب العالمين» دی، نو ځکه دې له هغه څخه د «هدايت» له غوښتنې سره، د قرآن په لوسـتلو پيل وکړي. پر دې مضـمون تر پوهېدو وروسـته دا خبره په واضـحه توګه څرګندېږي چې د قرآن او فاتحه سـورة تر منځ حقيقي اړيکه يوازې د کــتاب او لړليک يا کتاب او پيليزې په بڼه نــه ده بلکې د دُعا او دُعا د ځواب په بڼه هم ده. يعنې د فــاتحه سورة د بنده لــه لورې يوه دُعا ده، او قــرآن د خــدای لــه لورې د دُعــا ځــواب دی. بنده دُعــا کوي چې؛ ای پالونکی ښتنه ماته د سمې لارې «هدايت» وکړه! په ځواب کې پالونکی ښتن ټول قرآن د هغه مخې ته ږدي چې: دادی هغه هدايت، راهبري او پر لار بوونه؛ د کومې چې تا يې غوښتنه کړې ده.

ټول قرآنکريم د الله تعالی خبره زمونږ سره ده، خو دا سورة زمونږ خبره له الله تعالی سره ده! ښايي همدغه لامل وي چې د حمد سورة هم د قرآنکريم برخه او هم له هغه څخه بيل دی. په نورو سورتونو کې الله تعالی له اُمتونو او انبياؤ، راتلونکې او آخرت او له نيکو او بدو عملونو خبره کوي، خو په دې سورة کې را زده کوي چې مونږ څنګه له هغه سره خبرې وکړو.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾ | | اسْمِ = نوم، نامه – الرَّحْمَنِ = ښونکی، لوراند، د عام رحمت لرونکی – الرَّحِيمِ = مهربان، لورين، د خاص رحمت لرونکی – الْحَمْدُ = ستاينه، ستايش – لِـ = لپاره، مخصوص، ځانګړې – رَبِّ الْعَالَمِينَ = د جهانونو پالونکی ښتن، د ټولو کايناتو پالونکی ښتن، د دواړو جهانونو پالونکی ښتن – مَالِكِ = مالک، ښتن، خاوند – يَوْمِ = ورځ، مهال، وخت، پېر – الدِّينِ = جزاء، اجرت، پايله، بَدْله – إِيَّاكَ = يوازې ستا – نَعْبُدُ = نمانځنه کوو، عبادت کوو، بنده ګي کوو – نَسْتَعِينُ = مرسته غواړو، کومک غواړو – اهْدِ = هدايت وکړه، راهبري وکړه، بوزه – نَا = موږ لره – الصِّرَاطَ = لار، لويه سمه لار، واټ – الْمُسْتَقِيمَ – سم، نېغ – الَّذِينَ = هغه کسان چې – أَنْعَمْتَ = نعمت دې ورکړی، انعام دې کړی، لورينه کړې تا – عَلَيْهِمْ = پر هغوی – غَيْرِ = نه، پرته له – الْمَغْضُوبِ = تر خشم لاندې، غضب پرې شوی – لَا = نه – الضَّالِّينَ = لار ورکي، ګمراهان – |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾

[پیل کوم] په نامه(۱) د اللّه(۲) چې رحمان [لوراند] او رحیم(۳) [لورین] دی. [پر عامو او خاصو د رحمت خپرونکي خدای په نامه]

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾

حمد(۴) [= منني او ستاینې] په ټولیزه توګه یوازې د الله لپاره دي چې ربّ(۵) [پالونکی خښتن/ د واک او اختیار خاوند] د جهانونو دی [= نړۍ پال خدای].

الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾

[هماغه لورین او لوراند خدی] پر عامو او خاصو(٦) د رحمت خپرونکی

| لِلَّهِ | الْحَمْدُ | الرَّحِيم | الرَّحْمَن | اللَّهِ | بِسْمِ |
|---|---|---|---|---|---|
| د خدای لپاره | ستاینه او مننه | [او] لورین | [د] لوراند | اللّه | په نامه د |

| الرَّحِيمِ | الرَّحْمَنِ | الْعَالَمِينَ | رَبِّ |
|---|---|---|---|
| [په خاصه توګه] مهربان او رحمت کوونکی [لورین] | [په عامه توګه] رحمت کوونکی او بښونکی [لوراند] | جهانونه [کاینات] | پالونکی څښتن |

## له (۱ – ۳) آیتونو د مفرداتو لنډه تشریح:

۱ - اسم هماغه عنوان، علامت (نښه) او لفظ دی چې پر اشخاصو، وګړو، څیزونو او پر مادي او غیر مادي توکو او چارو ایښوول کېږي تر څو ماهیت یې له نورو م شخص، جلا او وپیژندل شي دا د تفاوتونو، توپیرونو او فرقونو د ت شخیص او پیژندنې لپاره د هویت ټاکنه ده چې له مغزي فعل ( کړنو) او انفعالاتو سره سرته رسیږي. اسم (نوم) ایښوونه کولی شي دوه حالته پیدا کړي:

الف) بې محتوا (تش)؛ لکه یو نوم چې د خپلو ماشومانو (بچیانو) لپاره په خپله خوښه او سلیقه غوره کوو، یا هاغه نقش او اغیزې چې په خپلو انګېرنو، سوچ او خیال کې د پرښتو، قدیسینو، بتانو، طاغوتانو او... لپاره قایلېږو. قرآن دغه خیالي انګېرنې له ځانه را ایستل شوي نومونه چې ملتونه یې جوړوي ګڼلي دي: «...أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم...» «...آیا له ما سره د هاغو نومونو [= صفتونو او د خپلو معبودانو د نومونو په اړه] په اړه شخړه کوئ چې پخپله یا نیکونو مو جوړ کړي دي...» [اعراف۷۱(۷۱: ۷)، یوسف۴۰(۴۰: ۱۲)، رعد ۳۳ (۳۳: ۱۳)، نجم۲۳(۲۳:۵۳) او ۲۷ (۲۷: ۵۳)] .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب) له محتوا سره (ډک)؛ په داسې ډول دی چې د يو شيز يا يو چا واقعي هويت ځرګند کړي، دې ته وايي سم نوم (( اسم له مُسَمّی سره)). که په قرآنکريم کې راغلي دي چې خدای تعالی ټول اسماء آدم ته زده کړل، دا ځرګنده ده چې دا د بې مسمّی الفاظو او اسمائو (نومونو) زده کړه نه وه او نه ده ، بلکې په نړۍ کې د ټولو ځيزونو د ماهيت د شناخت او پيژندنې بالقوه استعداد او وړتيا يې د هغه په بنسټ او خټه کې کيښود.

په قرآن کې راغلي دي چې د يحيیٰ نوم چې له دې تر مخه پر چا نه وو ايښوول شوی، د هغه په اړه د خدای تعالی له لورې، پرښتو د هغه پلار زکريا ته بشارت (زيری) ورکړ: «يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا» [ددې دعا له قبلېدو سره، پرښتو پرې غږ وکړ] ای زکريا، موږ تاته د يو هلک زيری درکوو، چې نوم يې يحيیٰ دی چې تر هغه مخکې مو هيڅوک له داسې ځانګړتياو سره نه وو نومولي.» [مريم۷(۱۹:۷)]. يحيی د حَيّ [حيات، ژوند] له ريښې، د بني اسرائيلو لپاره د يحيی په ژوند ښونکي او بدلون راوړونکي شتون دلالت کاوه او هم هاغه وو چې د عيسی مسيح د رسالت لپاره يې ډګر برابر کړ، د مسيح نوم هم پرښتو مريم ته ابلاغ کړی وو: « إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ...» [آل عمران۴۵(۳:۴۵)]. او همدا راز نومونه: موسی [له اوبو نيول شوی]، عيسی، مريم، انجيل او ... ټول د واقعي ماهيت معرفي کوونکي دي. او همدا راز «اسمـاء الحسنی» [د خدای نيک نومونه] چې هر يو د خدای تعالی په يو صفت دلالت کوي او په دې سورة کې تر ټولو غوره ته، يا يو له تر ټولو غوره ته چې «رحمت» دی په دوو بڼو د «رحمانيّت» او «رحيميّت» په توګه ورته نغوته کوي.

۲ – «الله» د خدای تعالی د ذات اسم دی، نور نومونه چې له هغه پېژنو، ټول د هغه صفتونه دي. هر انسان هم په خپله پيژندپاڼه کې يو ټاکلی نوم لري، خو نيک او بد واقعي صفتونه هم لري چې د هغه د شخصيت معرّف دي. ډيری وګړي «اللّه» د خپل خالق په توګه مني، او يوازې د خدای تعالی په وجود باور لري بېله دې چې قلبي اړيکې يې ورسره جوړې کړي وي. چې دا مهمه ظريفه اشاره او نکته په همدې خدای باوری يا الهي عدالت او عبادت کې نغښتې ده.

پوهيږو چې په نړۍ کې ډير ستر کهکشانونه شتون لري چې زموږ او د هغوی تر منځ هيڅ راز اړيکه شتون نه لري موږ يوازې د هغوي په شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور لرو، په عين ترتيب يو ډول د خدای پيژندنه هم شتون لري چې په همدې بريد کې يعنې؛ تش په باور درلودلو کې خلاصه کيږي، خو د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» جمله مونږ پوهوي، چې هغه چا چې مونږ خلق کړي يو، زمونږ په نسبت بې تفاوته نه دی، د هغه رحمت لکه د لمر د نور او وړانګو په څير د هستی پر جهان او پر مونږ باندې ځليږي.

قرآن د تمثيل په مقام کې وايي «اللّهُ نُورُالسَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ...» [نور۳۵(۲۴:۳۵)] «اللّه د آسمانونو او ځمکې نور دی». که نور نه وي ټول څيزونه به په تياره او چوپتيا کې وي. که د هغه تودوخه نه وي هيڅ ژوند به شتون و نلري، زمونږ او د خدای تعالی اړيکه ډيره نږدې ده او هرمهال او هره شيبه د هغه په رحمت کې يو. که يوه شيبه هم د رحمت لمر زمونږ څخه وګرزول شي، نو نشت او فنا ته ځو.

۳ – د خدای تعالی رحمت پر موږ دوه جلوې او ځلاوې لري؛ «رحمٰن» او «رحيم»؛ رحمٰن، د الله تعالی عام رحمت د ټولو لپاره دی، لکه د نور د وړانګو او د لمر د تودوخې په څېر چې د ځمکې پر ټولو ځايونو يو شان لګيږي، دا «يو اړخيز» رحمت دی، خو رحيميّت يې، « دوه اړخيز» رحمت دی؛ لکه د مځکې د هرې ټوټې په څېر چې د جذب د ډيرې وړتيا په نسبت، ډير زيات نور او تودوخه اخلي. تيږې او ډبرې د لمر نور ډير لږ جذبوي او ډير زيات منعکس کوي، خو اوبه او خاوره او دښتې او ځنګلونه، خورا ډير نور او تودوخه جذبوي.

«رحيم» د الله خاص رحمت دی؛ په هاغه نسبت چې بندګان خپل ځان څومره ډير د هغه رحمت ته برابر کړي، هغوی ته هغومره ډير رحمت رسيږي. لکه د ښوونکي په څير چې ټولو ته يو راز زده کړه ورکوي، خو هغه زده کوونکي چې ډير ښه غوږ نيسي او ډيرې پوښتنې کوي، هغوی ته تر نورو ډيره پاملرنه کوي او د هغوی د ودې او کمال لپاره ورته ډير تمرينونه ورکوي. په قرآن کې لس ځلې [۱۰ يو بشپړ او تمام عدد دی] تکرار شوي دي چې اللّه په ټولو بندګانو «رئوف او رحيم» دی، يعنې هر وګړی په خپلواکه توګه له اللّه سره د اړيکو وړتيا او استعداد لري او هغه هم د خپل خلق سره مينه لري او پر هغوی ټولو مهربان دی، خو هغوی د خپل خدای سره اړيکه لکه څنګه چې اړينه ده، نه برقراروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن کې په ځلونو او مکرره توګه راغلي دي چې مشرکينو د الله رحمانيّت نه منه او کوم مهال به چې هغوی ته ويل کېدل رحمن ته سجده وکړئ، ويل به يې رحمن څه شی دی؟ «... قَالُوا وَمَا الرَّحْمَنُ...» [فرقان۶۰(۶۰: ۲۵)]. د اسلام د پيغمبر ستونزه د خپل مهال د مشرکينو سره د خدای تعالی د وجود اثبات نه وو؛ اصلاً په قرآن کې داسې يو آيت هم شتون نه لري چې کوم پيغمبر د «الله» وجود ثابت کړی وي، ټولو اُمتونو الله منه او قبلوه يې، خو له شرک سره مل او په خرافاتو ککړ. له مشرکينو سره د پيغمبرانو ټول بحث د الله له رحمانيّت سره مل د ربوبيّت پر سر وو. د حضرت ابراهيم خبره له نمرود سره او د حضرت موسی خبره له فرعون سره د ربوبيّت او رحمانيت پر سر ده.

۴ – کوم الف او لام چې د «الْحَمْدُ» په پيل کې راغلي دي، مونږ ته راښئ چې هر يو حمد يوازې د الله لپاره دی، يعنې د هر يو حمد بنسټ او سرچينه، په جهان کې يوازې الله دی او نورې ټولې ستاينې د الله د حمد په اوږدوالي کې دي [نه د هغه په عرض کې]. که يو څوک کوم هنر لري، عقل يې يو څيز ته رسيږي، له دنيا برخمن دی، يا د يو خير او خدمت توفيق پيدا کوي، ټولو له الله سرچينه نيولې ده. نو «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ»، يعنې الله د ټولو انسانانو رئيس، چلوونکی، سَرور، او د اختيار خاوند دی.

حمد، د هر هغه څه په نسبت چې ښه او ښکلی دی، د يوې ستاينې احساس دی، د يو ښکلي او ښه بوي والا ګل مونږ ستاينې ته اړ باسي! خو مونږ ډېرى د هغه نسبت بې او بې‌وال ته ورکوو. د يوې ښکلې نندارې يا تابلو ليدل هم مونږ تحسين ته هڅوي او د هغوی ستاينه کوو، خو ښائي له خپل ځانه پوښتنه وکړو چې د دوي اصلي پيدا کوونکی څوک دی؟

د مولوي په قول:

ای دوست شکر خوش تر يا آن که شکر سازد؟ خوبی قمر بهتر يا آنکه قمر سازد؟

د بشر د علايقو يوه برخه خواږه او خوندور خواږه دي. خو هغه خدای چې مېوې، او نور خوراکي توکي يې جوړ کړي دي او د تريخوالي، خوږوالي، ترييوالي او تروشوالي احساس يې زمونږ په ژبه کې ايښی دی، ډېر ښه دی يا د هغوی تهيه کوونکي؟

د قمر ښه والی بهتر دی يا هغه چې قمر يې جوړ کړی؟ سپوږمی د ټولو ښکلاو سمبول دی. د ږ شر پاملرنه ډول، ډول ښکلاو ته ده، له خپرې او اندام څخه چې غريزي اړتياوې پرې پوره کوي تر نورو ښکلاو بايد هغه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په لور چې دا احساسات یې پکې ایښي دي وهڅوي! په رښتیا انسان کې د عشق، عاطفې او احساس سرچینه چرته ده؟

ای باغ تو خوش باشِی یا گلشن گل در تو    یا آن که بر آرد گل صد نرگس تر دارد
ای عقل تو خوش باشي در دانش و بینش    یا آن که به هر لحظه صد نرگس تر دارد

زموږ د پاملرنو یوه برخه گل او گیاه (او شنېلیو) ته، د طبیعت ښکلاو ته، عطر او رنگ او بوی ته او دا ډول ځانگړنو ته ده. آیا مونږ دې مصنوعاتو ته جذب شوي یو، یا جمیل خدای ته جذب شوي یو چې دا ټولې ښېگنې یې جوړې کړې او هست کړي دي؟

ځینې په عقل مېنان او د عقل تر اغېز لاندي دي؛ مدرن عقلانیت، پرځان بسیا او پر ځان بنیاد او خپل بنسټی عقل! او خدای تعالیٰ یې ځنډې ته ایښی او هېر کړی دی. آیا کله مو له ځانه پوښتنه کړې چې مونږ ته دا عقل چا رابښلی او راکړی دی؟

۵ - په دې آیت کې ربوبیّت ته، چې د الله تعالی بل صفت دی، اشاره کوي. په انگلیسي ژبه کې د(( ربّ)) ژباړه په Senior یا Lord سره کیږي، یعني الله تعالی رئیس، واکمن او د اختیار خاوند دی. کېدای شي الله تعالی د جهان د خالق او د زړه سواندي او مهربان خالق او پیداکوونکي په توگه وگڼو او باور ولرو، خو په دې پوه نه شو چې هغه زمونږ رئیس دی او ټول جهان چلوي. دا یو تر بله ډېر فرق کوي چې تاسو یو څوک د خپل ځان د اختیار خاوند، واکمن او ټول چاري وگڼئ، ددې په وړاندې چې هغه یوازې پیدا کوونکی او خالق وگڼئ او تش په خالقوالي یې باور ولرئ!

په لومړي حالت کې، هغه ته اړتیا لرو او هڅه کوو چې رضایت یې حاصل کړو، او په دویم حالت کې هغه د یو ساعت جوړونکې په څېر گڼئ چې له جوړولو وروسته، په هغه څه چې جوړ کړي یې دي هیڅ کار نه لري. ډیری وگړي هر مهال چې کوم نیاز او اړتیا ولري خدای تعالی پسې ځي! دا ډول خدای پېژندنه ځان غوښتونکي خدای پیژندنه ده چې خدای او پیغمبر د خپلو حاجتونو او اړتیاو د پوره کولو په خدمت کې غواړي؛ خو هغه چا چې ربّ یې پېژندلی دی، بیم او امید [ډار او هیلې] یې هغه ته دي، زړه یې د هغه په یاد ټوپونه وهي. او پوهیږي چې د هغه په نعمت ساه اخلي او ساه وباسي او د سترگو باڼه یې د هغه په نعمت ښکته پورته کېږي، پرانیستې او تړل کېږي.

نو دغه سورة له خدای پیژندنې سره په دري اړخونو کې پیل کېږي او د ټول قرآن بنسټ پر دغو دریو اصولو الوهیت، ربوبیت او مالکیت اینوول شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴿۴﴾

[چې] مالـک(۷) [خښتن، فرمان چلوونکی ، واکمن او حاکم] د ورځې د جزا(۸) [قضاوت، عدالت او نیاو] دی

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿۵﴾

[پالونکی خښتنه] یوازې ستا عبادت [نمانځنه] کوو(۹) او یوازې لـه تا مرسته غواړو(۱۰)

| مَالِكِ | يَوْمِ | الدِّينِ |
|---|---|---|
| خښتن، واکمن، پادشاه | ورځ، وخت، مهال، پېر | جزاء، نیاو، عدالت |

| إِيَّاكَ | نَعْبُدُ | وَإِيَّاكَ | نَسْتَعِينُ |
|---|---|---|---|
| یوازې تاته | عبادت [نمانځنه] کوو | او یوازې له تا | مرسته غواړو |

## له (۴ – ۵) آیتونو د مفرداتو لنډه تشريح:

۶ – د رحمن او رحيم صفتونه هم د سورة په پيل کې «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» او هم په دريم آية کې له «رَبِّ الْعَالَمِينَ» وروسته راغلي دي؛ يو وصف د دوو بېلابېلو نقشونو لپاره؛ رومبی، الهي ذات چې د خاص او عام لپاره د رحمت سرچينه ده معرفي کوي، دوهم يې «ربوبيّت» د هغه د مهربانۍ، لورينې او رحمت پر بنسټ؛ کېدی شي يو څوک په خپلو کورنيو اړيکو کې مهربان او زړه سواندی وي خو د کار په چاپېريال کې ډېر سټغ او سخت نيوی وي؛ له خپلو سره ښه دی، او له نورو سره په اداري اړيکو کې بداخلاق! خو الله، هم ذات يې رحمن او رحيم دی او هم ربوبيّت يې. د هغه مديريت په جهان (نړۍ) کې مونږ ته يا نورو موجوداتو ته د نياز او اړتيا او يا د مخلوقاتو د استثمار له کبله نه دی، بلکې د هغه د بې نيازۍ، رحمت او لورينې پر بنسټ دی. په بشري بيلګې، کچه او محدوده کې، والدين يا معلمان هم، نه د نياز او اړتيا له مخې بلکې د مهربانۍ او لورينې له مخې زمونږ ښوونه او روزنه کوي. تر څو د جهل او ناپوهۍ له تيارو د آګاهۍ، پوهې، اخلاق او ايمان نور ته ورسېږو.

۷ – مـالـک هـم د صاحب، خـاونـد او خـښتن په مـعنا دی، او هـم د مَلِـک، يعنې پادشـاه، واکمن، د اختيار خاوند او د هوډ او تصـميم نيوونکی په معنا. هغه هم «الله»، هم «رحمن» او هم «ربّ» دی، چې په دنيا کې هغه تـه نيازمند او اړ يو، او هغه د راتلونکي او آخرت مالک او خښتن هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ – د «دين» د کلمې اصلي ريښه جزا او پاداش دی، موږ په دنيا کې چې کومې کړنې او عمل سر ته رسولی دی، پايله او نتيجه يې په آخرت کې وينو، لکه څرنگه چې هر هغه څه چې په ښوونځي کې لولو، نتيجه يي زمونږ په وجود کې تحقّق مومي، او د هر ښوونيز پړاو په پايله کې تر ازموينې وروسته برېليک لاسته راوړو. «يوم الدين» د ژوندانه د لاسته راوړنو د تحقّق موندلو مهال دی.

لـــه بده مرغه په پښتو، فارسي يا نورو ژبو کې د «دين» د څو اړخيزې کلمې د مفهوم د ليږد لپاره هر اړخيزه کلمه نلرو؛ د دغې کلمې اصـلي معنا هماغه جزا او پاداش دی، خو اجر او پاداش بايد د ټاکلو نظامونو پر بنســټ وي نو د دين د کلمې د معنا بل اړخ «اســـاسي قانون او حکومتي نظامونه» دي چې هغه ته «دينِ المَلِك» ويل کيږي [يوسف٧٦(١٢:٧٦)]، د هغه بل اړخ، د اوسنۍ «ايدئولوژی» مفهوم لري چې د سياسي مکتبونو د پليونانو لارښـــود دی. د دين کليمه د قرآنکريم په ډېرو آيتونو کې همدغه مفهوم، البته په معنوي او ابدي اړخونو کې، لري.

۹ – نو چې زمونږ راتلونکې د هغه په لاس کې ده، نو بايد يواځې د هغه عبادت وکړو. عبادت د قرآن کريم په ترجمو کې پرستش يا نمانځنه معنا کوي خو دا هر اړخيزه معنا د عبادت لپاره نه ده او له بده مرغه په فارسي او پښتو کې ورته مناسب معادل نه لرو چې د هغه هر اړخيز مفهوم څرگند کړي. عبادت د انسان د تسليم او تمکين د حالت بيانوونکی دی د اروابناد شريعتي په وينا؛ عبادت د وجود د واټ او جادې سمول او هموارول دي. «عَبّدَالطّريق» يعني لاره يي اسفالټ او پخه کړه. «طَريقٌ مُعَبّد» عبد شوی واټ، يعني د چلوونکي لپاره همواره او سمه شوې ده او ډبرې، کندوکپر او لوړې ژورې نه لري. په عربستان کې د واټ سمولو ماشين ته «عابد» وايي!!

مونږ بايد خپل وجود الله لپاره صاف، سم او هموار کړو او د هغه د فرمانونو په مقابل کې خاضع او تسليم اوسو، ورته سر ټيټ کړو او فرمان وړونکي اوسو. که فرمائي؛ انفاق وکړئ، عفو وکړئ، جهاد وکړئ، او يا مهربان اوسئ، زمونږ وجود ددې فرمانونو جذبوونکی او د الهي امرونو منونکی اوسي. څرنگه چې الله د «يوم الدين» مالک دی، مونږ د خپلو اړتياو غوښتنه يوازې له هغه څخه کوو. خپل ځان ته تلقين کوو چې يوازې د خپل خالق او پنځوونکي په مقابل کې تسليم او تابع يو او نه د بل هيچا. دا د عبادت معنا ده. په خپل ټول ژوند کې يوازې له هغه مرسته اخلو او بل هيچا ته سر نه ټيټوو .

۱۰ – استعانت او مرسته هم يوازې له الله ده. منظور ترې د انسانانو تر منځ عادي او معمولي مرستې چې ټولنيز ژوند د هغوی پر بنسټ ولاړ دی نه دي، په هاغو چارو کې چې الله ته ځانګړې دي او هيڅ واسطه او شفيع وجود نه لري، يوازې هغه دی چې سميع او بصير، حيّ او قيّوم، حاضر او ناظر – او مراقب او شاهد دی .

---

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴿٦﴾

موږ ته سمه (مستقيمه) [لويه] لار [۱۱] [= واټ]، راوښايه. [= موږ په سمه لار بوزه]

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

[لويه] لار [= واټ] د هغه کســانو چې هغوی ته دې نعمت ورکړی،[۱۳] نه د مغضوب شويو [= ستا تر غضب لاندې شوو] لار او نه د لار ورکو[۱۴]

| اهْدِنَا | الصِّرَاطَ | الْمُسْتَقِيمَ | صِرَاطَ | الَّذِينَ |
|---|---|---|---|---|
| موږ ته لارښوونه وکړه | [لويه] لار، واټ، سترېټ | سمه، نيغه | [لويه] لار، واټ | هغوی چې |

| أَنْعَمْتَ | عَلَيْهِمْ | غَيْرِ الْمَغْضُوبِ | عَلَيْهِمْ | وَلَا الضَّالِّينَ |
|---|---|---|---|---|
| تا انعام پرې کړی [نعمت دې ورکړی] | پر هغوی | نه چې پرې غضب شوی | پر هغوی | او نه لار ورکي [ببلاري] |

---

## له (٦ – ۷) آيتونو د مفرداتو لنډه تشريح:

۱۱ – صراط لار ده، خو ډېرې کلمې په قرآنکريم کې د لارې معنا لري، طريق، جاده او سبيل، مذهب، مسلک او... صراط رومي کلمه ده چې عربي ژبې ته راغلې ده. «Street» يې لاتين نوم او يوناني معادل يې «ستراتو» دی چې د لرغوني روم امپراطورۍ په ډېرو پوښل شوو ارتو واټونو ته، لکه په ښارونو کې اوسنيو لوی لارو ته ويل کېده. د صراط په معنا کې جذب او تېرول هم نغښتې دي [چې عربي ريښه يې له سين سره ده]. دا يوه نيغه، سمه او اصلي لار ده چې موږ خپل لور ته جذبوي، نه يوه کږه وږه او تاوه راتاوه لار چې لاروی سترې او ستومانه کړي.

موږ هره ورځ په خپلو پنځګونو لمونځونو کې، اوولس ځلې له الله غواړو چې موږ صراط مستقيم ته هدايت کړي. که يو څوک پوښتنه وکړي: مطلب دې له صراط مستقيم څخه څه دی، څه ځواب لرو؟ آيا نه ښايي پوه شو چې څرنګه لار له هغه غواړو؟! که پوه نه شو ، زموږ پر ژوند څه اغيز اچوي؟

د قيامت په ورځ کې الله تعالی له خپلو بندګانو پوښتنه کوي : ای د آدم بچيانو، مګر تاسو سره مې عهد نه وو تړلی چې شيطان ته رام او تسليم مه اوسئ، «أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الـَّشيْطَانَ»، بلکې يوازې زما عبادت وکړئ [زړه مو د حق منلو لپاره هموار وي] چې صراط مستقيم همدغه دی، «وَأَنِ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ».

۱۲ – هدايت لار«ښوونه» نه ده، [په] لار «بوتلنه» ده، «ايصال بالمقصود» دی يعنې پړاو او موخې ته رسول دي. يو څوک که له تاسې يو ادرس يا پته وغواړي؛ که تاسې ورته د لارې نښې ور په ګوته کړئ او لاره ورته وښاياست، لارښوونه مو ورته کړې ده، خو که تاسو مخکې شئ او هغه مقصد او پړاو ته ورسوئ، هدايت مو ورته کړی دی. په هدايت کې په لارې پوهېدل کفايت نه کوي، له هادي څخه تبعيّت او په سمه لاره سم تګ ته ضرورت دی، له همدې امله قرآنکريم يوازې د متّقينو، مؤمنينو، محسنينو او مسلمينو [حقيقت ته تسليم شوو] لپاره هدايت دی، د دې صفتونو له عمل سره کولی شو، هادي [قرآن او سنّت] پسې د مقصد (موخې) پر لور لاړ شو. ديني پوهه له دې صفتونو پرته هيڅوک مقصد او موخې ته نه رسوي.

د بقره سورت په پيل کې راغلي دي: «ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ» داسې نه وايي چې «هدی للعلماء، للفقهاء ...». که د هدايت معنا لارښوونه وای، دغه کتاب کېدی شو د هغه چا لپاره، چې هغه وپيژني او ويې لولي او د هغه حافظ يا مفسر وي هدايت وای، خو وايي چې دا کتاب د متّقينو لپاره هدايت دی. تقوا هماغه د نفس د کنټرول اراده او د ژوندانه د مسير او لارليک په خطرونو کې د بريک او تمېدني او کنټرول درلودل دي؛ د زړه د غوښتنو خطر او هوی او هوس او اخلاقي رذالتونه چې د حق د مسير او لارليک لارشوکي دي.

له اسلام تر مخه، «هادي» هاغه چا ته ويل کېده چې کاروان به يې له سوځنده صحراګانو او ښوره ناکو دښتو څخه، د شپې پر مهال، د هاغې پيژندنې له مخې چې د ستورو له موقعيت او جغرافياوي لورو څخه يې درلود موخې او پړاو ته رساوه. په هغه مهال کې د عربستان د سختې تودوخې له امله، مسافرانو به د شپې د ستورو د نور په رڼا کې سفر کاوه، نو کارپوه او هادي يا «د لارې بلد» ته يې اړتيا درلوده. پيغمبران هم هغه هاديان ول چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقيقتونو او معنوياتو د آسمان له لارو سره آشنا ول چې وګړي يې د سعادت او نجات (او ژغورنې) پر لور د ژوندانه له سرابونو څخه د مقصد او موخې په لور رهبري کول. کېدی شي يو څوک د نړۍ ډېر غوره قرآن پېژندونکی وي، خو لا تر اوسه هدايت شوی نه اوسي.

وايي چې؛ ګوډ تيمور به ويل چې حافظ څو کوم هنر نه دی کړی! ما خو قرآن د پای له څوا هم حفظ کړی!! له دې سره سره يې د نړۍ تر ټولو ستر خوند او لذت، او تر ټولو غوره ننداره يې د مخالفينو د غاړې غوڅولو په وخت کې د وينو فوران ګڼه!! په لښکر کې به يې تل ګرځنده محراب ورسره وو چې شلو کسانو به لېږداوه او هر ښار ته به چې په زور ننوت، رومبی به يې د ښار له علماو سره مباحثه کوله! څو هنر او نامتووالی يې دخلکو په عام قتل کې وو. آيا کولی شو دا ډول يو حافظ هدايت موندی وګڼو؟

په دې سورة کې د «ما» ځای ‌ذ شته، ټول يې «موږ» دی. زموږ د ټولو سرليک او تقدير يو تر بله اړيکه لري. ټول په اصطلاح په يوه کښتۍ کې سپاره يو. د حمد په سورت کې موږ دعا کوو: «اِهــدِنَا» موږ ته هدايت وکړه، نه اِهْدِنی، يواځې ماته. بلکې زموږ لاسونه ونيسه او موږ ته توفيق راکړه تر څو وکولی شو ستا په هدايت او لاس نيوي، صراط المستقيم «سمې لارې» ته برابر او سم شو.

۱۳ – آيا په سمه توګه پوهيږو چې صراط المستقيم څه څيز دی؟ کېدای شي پوه نه شو چې صراط المستقيم څه څيز دی. هغه موږ پوهوي چې صراط المستقيم د هغه چا لار ده چې هغوی ته يې نعمت ورکړی، لورينه يې پرې کړې ده، موخه يې کوم کسان او کوم نعمت دی؟ د قرآنکريم په دوو نورو آيتونو کې، هغه کسان چې الله تعالی هغوی ته ځانګړی نعمت ورکړی معرفي کړي دي:

الف – نساء ٦٩: « فَأُولَئِـكَ مَـعَ الَّـذِينَ أَنْعَـمَ اللَّـهُ عَلَـيْهِمْ .....» الله تعالی دوی ته نعمت ورکړی دی: «مِـنَ النَّبِيِّـينَ»، پيغمبران، «وَالصِّدِّيقِينَ» د پيغمبرانو تصديق کوونکي، د بيلګې په توګه: د حضرت موسی ياران، د حضرت عيسی حواريون، د اسلام د پيغمبر (ص) اصحاب او په وروسته نسلونو کې د هغوی تابعين. «وَالشُّهَدَاءِ» [د ليد او م شاهدې وړ بيلګې، اُسوې او مثالونه] هغه کسان چې د حق په لار کې د ځان او مال په فدا کولو د نورو لپاره نمونه او بېلګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي. «وَالصَّالِحِينَ» اصلاح کوران، د ډول ډول مفاسدو په مقابل کې مبارزين. «وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا» هغوی ښه ملګري او دوستان دي!! هغه څوک چې په لمانځه کې وايي مونږ د هغو کسانو په لار چې نعمت دې ورکړی هدايت کړه، دا راز وګړي په نظر کې راوړي .

ب – مريم ۵۸ : «أُولَئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ...»

دوی هغه کسان دي چې الله هغوی ته نعمت ورکړی دی: پيغمبرانو ته د آدم له ذُريّه (ټبر) څخه، له هغو کسانو څخه چې د نوح کښتۍ ته مو سپاره کړل، د ابراهيم او يعقوب له ټبر څخه او له ټولو هغو کسانو څخه چې هدايت مو ورته کړی دی او هغوی مو غوره کړل ...

۱۴ – مفسرين وايي «مَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ» يهودو ته اطلاق کيږي. څرنګه چې په قرآنکريم کې لس ځلې تکرار شوي دي چې بني اسرائيل د نافرمانۍ، سرغړونې او دنيا پالنې له لامله د الله تعالی په غضب کې شامل شول. او «ضَّالِّينَ» هغه مسيحيان ګڼي چې له شرک سره په تثليث کې بې لارې شوي دي. له دې سره سره دا مصاديق ددې ممانعت نه کوي چې پر مونږ تعميم نه شي په قرآنکريم کې نور ګناهونه لکه : شرک، ضلالت، نفاق، کفر او ... د مغضوب کېدلو له موردونو شمېرل شوي دي .

غضب هماغه خشم، غوسه او خروشېدل دي چې د نورو د ناوړه کړنو په پايله کې له انسانه څرګندېږي، خو له ۲۴ موردو څخه چې د غضب کلمه په قرآنکريم کې راغلې ده ، يوازې ۵ مورده يې په بشري غضب پورې اړه لري او نور ۱۹ مورده ټول يې له الهي غضب څخه نوم وړل شوی دی، [چې د شمېر له مخې د دوزخ د خازنانو له شمېر سره برابر دی ـ مدثر ۳۰ ـ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ]، د انسان غضب د نورو له کړنو څخه پر اغېزمنې دلالت کوي، په داسې حال کې چې د پالونکي رب ذات د بندګانو له اغېزمنې څخه پاک، سپېڅلی، بېل او لېرې دی. ويل کيږي د الله له غضب څخه مراد د هغه فعلي صفت او هغه پايله ده چې په خپل کيفري نظام کې يې د ظلم، ځور او ستم لپاره ټاکلې دي [لکه په زهرو کې د وژلو او په اور کې د سوځولو د اغيز په څېر].

وګړي هغه مهال غوسه کيږي او خشم کوي او غبرګون څرګندوي چې د خپل رضايت پر خلاف کوم چلن ووينې، کوم قوانين چې الله تعالی په نړۍ کې او د انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په عالم کې ټاکلي دي دا ډول غبرګون څرګندوي: «...وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَى» [طه۸۱(۲۰:۸۱)] – «...طغیان مه کوی [له بریده مه تېرېږئ] چې زما خشم به پر تاسو روا شي او پر هر چا چې زما خشم روا شي [د هلاکت کندې ته] غورځېدلی دی».

لنډه دا چې وایو: ای الله، زه د هاغو کسانو لاره چې ستا له نعمتونو برخمن شوي دي غواړم، هماغه د تاریخ ځانګړي انسانان، له پیغمبرانو او د اولیاء حق څخه تر د انساني ټولنو د بېلګو او تر ټولو اوچتو ځانګړو وګړو. نه د هغه چا لاره چې ناسم دي او بې لارې شوي دي او ستا خشم، غضب او غوسه یې پارولې ده او لار ورکې شوي دي.

---

## د حمد (فاتحةالکتاب) سورة تشریح

لکه څرنګه چې تاسو ته څرګنده ده، قرآنکریم له اوږدو سورتونو سره پیل کېږي؛ بقره، آل عمران، نساء، مائده، انعام، انفال، توبه او... هر څومره چې د قرآنکریم پای ته ورنژدې کېږو، په تدریج د کتاب پای ته په نژدې کېدو سره، د آیتونو او سورتونو منځنی اوږدوالی مخ په لنډېدو شي؛ لکه د ناس، فلق، اخلاص او... سورتونه چې ځینې یې له دوو درېو کرښو زیات نه دي.

دا کابو عمومي قاعده د «حمد» سورة په توسه چې د قرآن په پیل کې ځای لري، په ځانګړې او څرګنده توګه له منځه ځي.

او د حمد سورت له دې نظره بشپړ ځانګړی وضعیت لري؛ دې سورة له خپل کوچني حجم سره، چې د بقره سورة کابو دوه سوه یمه برخه ده، د هغه تر مخه یې ځای نیولی دی او دغه تقریبي نظم یې لـه منځه وړی دی! د دې سورة توپیر له نورو سورتونو سره څه دی؟ دا سورة چې ظاهراً داسې برېښي چې ځای یې باید د لنډو سورتونو په منځ کې د قرآن په پای کې وي، خو له بقره سورة مخکې یې، چې له دوه سوه چنده زیات حجم ترې لري، ځای نیولی او د «فاتحة الکتاب» په عنوان د هدایت د کتاب افتتاح کوونکی ګرځېدلی دی. داسې ځای او موقعیت نیول په جوته توګه بې له لامله او پرته له حکمته نه دی او ځای لري چې په امتیاز او ځانګړتیا کې یې اندنه وکړو.

ددې سورة د شأن او د هغه د آيتونو د جامع او کامل والي په اړه، او کوم ايجاز او اختصار چې په کليمو کې يې کارول شوی دی، ويل شوې دي چې د حمد سورة د قرآن فهرست او هغه د اصولو او معناګانو مجموعه ده او هيڅ نمونځ له «حمد» پرته کامل او بشپړ نه دی [لا صلوة الا بفاتحة الکتاب].
بنايي د همدغه کوټلي حالت او جامعيت له امله وي چې خدای تعالی، حضرت رسول اکرم(ص) ته ددې سورة ورکړه له ټول قرآنه په خپلواکه او ځانګړې توګه يادونه کړې ده: «لَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ.» [حجر۸۷(۱۵:۸۷)]. او په تحقيق تاته مو «سبع مثاني» [= دحمد سورة له اوو پخپلو کې اړوندو آيتونو سره] او قرآن عظيم درکړ. يعني موږ تاته عطف کېدونکي اوه آيتونه او قرآن عظيم درکړ.

هر يو کتاب يو لړليک لري، قرآنکريم هم يو لړليک لري چې حمد، يا «فاتحة الکتاب» يعني د کتاب پيلوونکی نومول شـــوی دی اللّه تعالی دغې ســـورة ته ځانګړی شـــأن قائل شـــوی دی او پيغمبر (ص) ته يې فرمائيلي دي موږ تاته «سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي» (اوه آيتونـه پخپلو کې اړوند او يو بل ته پيليز) او قرآنکريم درکړ، يعني اوه آيتونه چې په بشـــپړه توګه يو تر بله اړيکه لري او هر آيت يې له ورپسـي او ورسـره نښتي آيت لـپاره پيليزه ده. ويـلی شـو چې د حمد سورت لـــه دې سره سره چې د قرآنکريم برخه ده، د يو غمي په څير په نـورو کې لـواړ دی چې په عين وخـــت کې خـــپلواکي هم لـري! ډېريـــو له مفســـرينو د حديثونو او روايتونو په استناد «سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي» د حمد سورة د هغه د آيتونو د اوه ګونيتوب لـه لامله، ګڼلی دی. او ويلي يې دي چې مطلب ترې د حمد د سورة اووه آيتونه دي.

قرآنکريم لکه د شګو د ډيری په څېر انبار شوی نه دی چې اجزاء او برخې يې يو له بله بيلي او جلا يو د بل تر څنګه ايښوول شوې او يا يو د بل پر سر پرتې وي، بلکه يو تر بله نښتې اړونده ټوليزه ټولګه ده لکه د انسان د بدن په څير چې ټولې برخې يې يو تر بله اړوند کار کوي او يو له بل سره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړي دي او اړيکي لري. د حضرت علي په تعبير: «ان القرآن يفسر بعضه بعضا» د قرآن يوه برخه يي بله برخه تفسيروي. په دې ترتيب د قرآنکريم د تفسير لپاره غوره لار، پخپله له قرآنکريم څخه ګټه اخيستل دي، ددې کتاب د برخو يو تر بله اړوندوالی او پرله پسې توب پخپله په قرآنکريم کې هم څرګند شوی دی:

«اللهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ...» [زمر۲۳(۳۹:۲۳)].

«الله [هغه ذات دی] چې ډېره غوره [او نېکه] نوې خبره يې نازل کړه؛ داسې همګون او همغږی کتاب ...».

خدای تعالی تر ټولو ښکلی حديث [نوی پيغام] نازل کړ. چې اجزاء يې يو تر بله ورته او يو پر بل عطف کېدونکي دي. د قرآن ټول آيتونه «مثاني» دي، خو د حمد د سورة پر مثاني والي له ټينګاره برېښي چې له عامې قاعدې خاص حکم او يو له بل سره ددې سورة د اجزائو د پيوند پر مُبيّن والي او څرګندتيا ټينګار وي. په داسې ډول چې هر آية د ورپسې آية لپاره پيليزه او د بنسټ ډېره ده، چې له الهي معارفه يې بشپړ ترکيب نندارې ته ايښی دی. د حمد سورة آيتونه [په ځانګړې توګه او د نورو سورتونو آيتونه په عمومي توګه] لکه د يو کتاب د مختلفو فصلونو په څېر، هر فصل د ورپسې فصل مقدمه او پيليزه ده او د استقلال او وجودي کمال سره، ځای پر ځای کول يا د موقعيت بدلول يې د سورة کلي مفهوم ګډوډوي.

مثاني د مثنيه جمع او مفعول اسم د «ثَنَیَ» له ريښې دی. دا کليمه په اصل کې د عطف په معنا ده. د دوو (۲) عدد ته له دې کبله (ثاني) يا اثنان، وايي چې د يو(۱) پر عدد عطف دی او له هغه سره جمع کېږي. له صفر(.) سره څه څيز نه زياتېږي، خو د شمېرنې لپاره يو بنسټ او د زياتوالي لپاره يوه مقدمه او پليزه ده. مدح او ستاينې ته هم له دې لامله چې نېک صفتونه يو بل ته، د صفتونو څښتن ته، عطف کوي ثنا وايي. دا کليمه په قرآن کې هم د جهت او لور د تغير ورکولو او له يو لورې بل لور ته د حرکت او ګردش په مفهوم کارول شوې ده لکه: «أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ ...» [هود۵(۱۱:۵)]

(c) ketabton.com: The Digital Library

«آګاه اوسئ چې هغوی [= مشرکان] خپلې سينې تاووي چې خپل ځان له هغه [= رسول] پټ کړي!...»

«ثَانِيَ عِطْفِهِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ...» [حج۹(۲۲:۹)] « [له کبر سره د حقيقتونو له منلو] خپل مخ اړوي چې خلک د خدای له لارې بېلارې کړي ....»

چې همدا يو پر بل «انعطاف» او پر بلې بڼې دلالت څرګندوي.

د حمد سورة آيتونه له ايجاز او لنډيز سره سره، د انسان ذهن ته په آفاق او انفس کې داسې ګردش ورکوي چې هيڅ متن د دا ډول تحرک او هڅونې او ذهني انقلاب او اووښتون ځواک نلري.

ومو ويل چې دا سورة اووه آيتونه لري، د اووه عدد په قرآنکريم کې ځانګړې معنا لري؛ د قرآن په فرهنګ کې د «اووه» عدد په سمبوليکه بڼه پر کثرت او ډېربښت دلالت کوي. د بېلګې په توګه: اووه ګوني آسمانونه، د الله په لاره کې د انفاق تشبيه د غنمو له دانې سره چې اووه وږې زرغونوي او هر وږی يې سل دانې لري چې ټول اووه سوه دانې ورکوي، د انفاق د آثارو د تکثير په تمثيل کې د غنمو اووه وږي [بقره۲٦۱(۲:۲٦۱)]، د قحطۍ اوه کلونه، اووه ډنګرې غواګانې او اووه څوربې غواوې، د غنمو اووه زرغون وږي او اووه وچ وږي «د حضرت يوسف په داستان کې»، [يوسف۴۳(۱۲:۴۳)]، د عذاب اووه شپې د عاد قوم لپاره [حاقه۷(٦۹:۷)]، د حج د حرمت د ماتولو کفاره له اووه تنبيهي روژو سره، يعنې اووه ورځې روژه نيول [په وطن کې] د هغه چا لپاره چې په حج کې د قربانۍ وسه او استطاعت نلري، د جهنم د اووه دړو درلودل [حجر۴۴(۱۵:۴۴)]، د کهف د اصحابو اووه تنه والې [کهف۲۲(۱۸:۲۲)]، د پالونکي ښتن د نومونو ليکلو لپاره د تمثيل په توګه اووه درياونه رنګ [لقمان۲۷(۳۱:۲۷)]. او ....

د حمد سورة د قرآنکريم لنډيز او لړليک دی او د قرآنکريم ټول بنسټيز مطلبونه په ټوليزه توګه په دې سورة کې راغلي دي. چې عبارت دي د الله تعالی له حمد، الوهيت [الله]، ربوبيت [رَبِّ الْعَالَمِينَ]، د خدای رحمانيت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحيميت. همدا راز د يوم الدين مالکيت [د قرآنکريم کابو څلورمه برخه د آخرت په اړه ده او په دې سورة کې يې عنوان د «يوم الدين» په توګه راغلی دی].

په دې سورة کې درې مهم قرآني اصول بيان شوي دي؛ تر ټولو مهم قرآني سرليکونه د توحيد، آخرت او نبوت په درې ګوټې کې خلاصه کيږي چې د دين اصل او بنسټ دی؛ په ټولو کې ړومبی يې خالصه خدای پيژندنه ځای لري. لږ او ډير ټول وګړي يو خالق مني، خو دغه اعتقاد تر ډېره بريده په شرک ککړ دی. دويم آخرت دی؛ په دې اعتقاد درلودل چې له دې دنيا وروسته قيامت په مخکې دی او موږ د الله لور ته بېرته ستنېږو. دريمه دا چې الله تعالی زموږ د بهتر ژوندانه لپاره لارښووني کړې دي چې هدايت يا نبوّت نوميږي. هر درې واړه موضوع ګانې په دې لنډ سورة کې په اجمال او اختصار ذکر شوي دي. او بنايي همدا لامل وي چې «ابن عباس» نامتو اسلامي مفسر وايي: «إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ أساساً ... وَ أساسُ الْقُرْآنِ الفاتِحَةُ». [هر څيز يو اساس او بنسټ لري ... او د قرآن اساس او بنسټ د حمد سورة دی].

په دې ســـورة کې له «عبادت» څخه چې د قرآنکريم له بنســـټيزو او کليدي کليمو څخه ګڼل کيږي يادونه شـــوې ده [ إِيَّاكَ نَعْبُدُ]، او همدا راز د الله تعالی څخه د مرستې اخيستنه[و إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ] او په پای کې سمې لارې ته «هدايت» [صِّرَاطَ المُســـتَقِّيمَ]، د هاغو کســـانو لار چې د الهي نعمتونو او لورينو څخه برخمن شوي دي [أَنعَمتَ عَلَيهِّمْ]، لکه پيغمبران، صدقين، شهداء او صـــالحين [چې په نورو ســـورتونو کې د دوی په اړه په تفصـــيلي ډول څرګندونې شوي دي او دلته په يوه کليمه کې بيان شوي دي].

همدا راز هغه کسان چې کږوالي ته کښل شـوي دي او د الله تعالی د غضب وړ ګرځېدلي دي يا لـــه سمې لارې ليرې شوي دي [الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ] چې د دوو مخکينيو امتونو تاريخي تجربو ته اشاره ده. د اسلام د مکرم پيغمبر(ص) له قوله نقل شوی دی چې فرمائيلي يې دي: «لا صلاة الي بفاتحه الکتاب» [هيڅ داسې نمونځ نشته چې پکې حمد و نه ويل شي].

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نمانځه کې د حمد سورة تر لوستلو وروسته بل سورة پخپله خوښه ټاکلی شو، خو حمد ثابت دی. هر مسلمان په خپلو ورځینیو لمونځونو کې لږ تر لږه ۱۷ځلې دا سورة وایي. او په ورځینیو نمونځونو کې دا سورة له یو بل سورة سره جوخت لږ تر لږه (۱۰) ځلې وایي، د (۱۰) عدد د قرآن په فرهنګ کې تمام او بشپړ عدد دی او علامتي معنا لري. نو به دا وي چې ددې سورة ژورې معنا ته ور پاملرنه ولرو.

## شمېریزې کتنې:

په دې سورة کې په زړه پورې فني او شمېریزې اړیکې شتون لري، چې د ډیرې پاملرنې وړ دي. د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ» جمله یوازې له دې سورة سره نازله شوې ده او ددې سورة د آیتونو په ګڼه کې لومړنی آیت شمېرل کیږي، د قرآنکریم د نورو سورتونو په پیل کې هم «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ» لیکل شوی خو ځانګړی آیت نه دی ګڼل شوی.

پوهیږو چې د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ» جمله ۱۹ حرفونه لري [ب س م ا ل ل ه ا ل ر ح م ن ا ل ر ح ی م]، او د دې آیت د څلورو کلمو تکرار هم په قرآنکریم کې د ۱۹ عدد مضرب دی. [چې ۱۹ د قرآن شمېریز بنسټ ګڼل شوی دی]

د «رحمٰن» نوم په قرآن کې، له «۲» موردونو پرته چې د رحیم له نوم سره ترکیب شوی [رحمن الرحیم]، په پاتې «۵۱» موردونو کې په یوازې او جلا بڼه کارول شوی دی. په داسې حال کې چې د «رحیم» نوم له دریو خاصو موردونو پرته چې انسان پورې اړه لري لکه: «...إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا» [نساء۲۹(۴:۲۹)] – «... إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا» [اسراء۶۶(۱۷:۶۶)] – «...كَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا» [احزاب۴۳(۳۳:۴۳)]. په «۱۱۱» نورو موردونو کې، د رحمن د نوم پر عکس، له نورو نومونو سره په لاندیني ترتیب ترکیب شوی دی چې د «رحمن» د نوم عمومیت او ټولیز اشراف او د «رحیم» د نوم انحصار او اختصاص د انسان د نوع یا مؤمنینو په نسبت ځرګندوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| غفور رحیم | ٦٣ ځلې | (یا غفوراً رحیماً) | رحمن الرحیم | ٦ ځلې | |
| تواب الرحیم | ١٣ | « (یا تواباً رحیماً) | رب رحیم | ١ ځل | |
| عزیز الرحیم | ١٣ | « | بَرُّ الرَّحِیم | ١ | « |
| رؤف رحیم | ١٣ | « | رحیم ودود | ١ | « |

دا سورة له اووه آیتونو تشکیل شوی دی چې لومړی یې «بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ»، یعنې هغه جمله چې د نورو سورتونو په پیل کې ځای لري، خو له دې توپیر سره چې یوازې د حمد په سورة کې دا عنوان یو «آیت» ګڼل شوی او په نورو سورتونو کې له ګڼې پرته دی. ګواکې لـه مختلفو آیتونو وروسته چې په جلا جلا بڼه د بعثت په لومړنیو کلونو کې پر پیغمبر نازل شوي ول، له «رحمن او رحیم» صفتونو سره د خدای تعالی معرفي کېدل د لومړي ځل لپاره د حمد په سورة کې چې د یوې ټوټې او خپلواکې ټولګې په بڼه د بعثت په دریم کال کې په مکه کې نازل شوی دی، سر ته رسېدلی دی.

له دې فرضیې سره چې د نورو سورتونو «بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ» د حمد د سورة د لومړي آیة تکرار دی. په دې آیة کې خدای تعالی له دوو نومونو «رحمٰن او رحیم» سره معرفي شوی دی چې په واقعیت کې د هغه پر «رحمت» له دوو ګوټونو کتنه ده. مفسرینو د «رحمٰن» نوم د خدای تعالی عام او نړۍ شمول رحمت ته اشاره ګڼلې ده، او د «رحیم» نوم یې د هغه خاص رحمت ته اشاره ګڼلې ده، چې مؤمنینو ته ځانګړی دی. د رحمٰن نوم ٥٧ ځلې په قرآن کې تکرار شوی دی. خو د رحیم نوم د هغه دوه چنده دی چې د قرآن د سورتونو له شمېر سره برابر دی، یعنې «١١٤» ځلې - [البته د رحیم نوم «١١٥» ځلې په قرآن کې تکرار شوی دی. خو «١١٤» مورده یې خدای تعالی ته اشاره لري او استثناءً د توبه سورة په پایاني آیة کې دا نوم پیغمبر اکرم(ص) ته اطلاق شوی دی...بالمؤمنین رؤف رحیم].

د مصـــــري پوهاند، د آریزونا پوهنتون د کمپیوټر د اسـتاد، پروفیسـور رشاد خلیفه، د شمېرېزو محاسبو پر بنیاد، د «بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ» جملې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجزاؤ تر منځ د رياضي دقيقي اړيکې شـتون لري، په داسـې ډول چې نه يوازې ددې عبارت د تشـکيلوونکو تورو مجموعه د «۱۹» عدد مضــــرب دی، بلکې ددې جملې تشـکيلوونکې يوه يوه کليمه چې په قرآن کې کارول شـوې ده د «۱۹» عدد مضرب دی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| اسم | ۱۹ | ځلې | ۱۹ x۱ |
| اللّه | ۲٦۹۸ | ځلې | ۱۹ x ۱۴۲ |
| رحمن | ۵۷ | » | ۱۹ x ۳ |
| رحيم | ۱۱۴ | » | ۱۹ x ٦ |

اســم ۱۹ ځلې، «اللّه» ۱۹ x۱۴۲ = ۲٦۹۸ ځلې، «رحمن» ۳ x ۱۹ = ۵۷ ځلې او «رحيم» ٦ x ۱۹ = ۱۱۴ ځلې!!

په زړه پورې ده چې د پورتنيو مضـربونو مجموعه هم پخپله د ۱۹ عدد مضرب دی: ۱+۱۴۲+۳ +٦=۱۵۲=۸x۱۹

د الله د نوم شــمير په ټول قرآن کې «۲٦۹۷» عددہ دی که هغه د حمد د ســورة له « بســم الله » سره چې يوازې يو ځل نازل شــوی او يوازې په همدغه سورة کې يو آيت شمېرل شوی دی، جمع کړو، د «۲٦۹۸» رقم چې د«۱۹» عدد مضرب دی لاس ته راځي ۱۹ x ۱۴۲ = ۲٦۹۸.

ډېره د پام وړ ده چې کـه د «الـه» (معبود) نوم هم پـه قرآنکريم کې وشمېرو (په نکره بڼه يا له ډول ډول ضميرونو سره). بيا هم د ۱۹ عدد مضرب لاس ته راځي: (۸ x ۱۹ = ۱۵۲) د «رحيم» نوم ۹۵ ځله (۵ x ۱۹) په قرآنکريم کې راغلی دی او هغه د ۲۰ ځلو سره چې دا نوم د نکره پـه بڼـه ( رحيما) راغلی دی جمع کړو، ۱۱۵عدد لاس ته راځي په دغو ټولو موردونو کې، د «رحيم» نوم الله تعالی ته نسبت ورکړل شوی دی، پرته له يو ځايه چې د توبه ســورت ۱۲۸ آية دی چې دا نوم د اســلام د مکرم رســول(ص) په وصـف کې راغلی دی، که يوازې هغه موردونه چې د الله په وصف کې دي په شمېر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنو، د دې موردونو جمع به د ۱۹ عـدد مضرب شي چې د قرآنكريم د سورتونو د شمير سره هم برابر دی : ٦ x ۱۹ = ۱۱۴.

دلته بايد دا هم اضافه كړو چې ددې سورة له اووه آيتونو څخه ۴ آيتونه هم دقيقاً له ۱۹ تورو څخه تشكيل شوي او د سورة د كليمو شمېر ۲۹ او د تورو شمېر يې دقيقاً د ۹ عدد ضريب دی [۱۴۴=۱٦x۹].

| [۱ – ۲ – ۵ – ٦] آيتونه په لاندې ډول: | كليمې | توري |
|---|---|---|
| آية (۱) – بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ | ۴ كليمې | ۱۹ توري |
| آية (۲) – الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ | ۴ « | ۱۹ « |
| آية (۳) – الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ | ۲ « | ۱۲ « |
| آية (۴) – مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ | ۳ « | ۱۲ « |
| آية (۵) – إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ | ۴ « | ۱۹ « |
| آية (٦) – اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ | ۳ « | ۱۹ « |
| آية (۷) – صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ | ۴ « | ۱۹ « |
| غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ | ۵ « | ۲۵ « |
| | ۲۹ كليمې | ۱۴۴ توري (۹ x ۱٦) |

قـرآن كـريم هـم ٦ x ۱۹ = ۱۱۴ سـورتونه لـري. چـې، هـم «بِسْـمِ اللَّـهِ الـرَّحْمَنِ الـرَّحِيمِ» ۱۹ تـوري لـري او هـم يـې د هـرې يـوې كليمـې تكـرار پـه قرآنكـريم كـې، او هـم د قرآنكـريم د سـورتونو شـمير د ۱۹ مضـرب دی!! دغـه شـمېرېزې اړيكـې څـو لسـيزې مخكـې مصـري څېړونكـي «رشـاد خليفـه» كشـف كـړې، خـو دې سورة تـه پـه پاملرنـه كـې نورې نښې هم څرګندېږي، له هغې ډلې:

د حمد سـورة له ۲۹ كلمو څخه جوړ شـوی دی. ۲۹ مسـاوي د ۱۰ (تام عدد) جمع ۱۹ دی. ددې سورة د كلمو شمېر هم ۱٦ x ۹ = ۱۴۴ توري دي! داسـې ښـكاري چې د ۹ او ۱۹ او ۲۹ عددونه د دې سـورة كودونه وي (والله اعلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې ۹، ۱۰ + ۹، ۱۰ + ۱۰ + ۹، د ۱۰ عدد په سـمبوليکه توګه د بشـپړ (تمام) عدد ښکارندوی دی [وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ - اعراف ۱۴۲ او قصص ۲۷].

په دې ترتيب معلوميږي چې: ۹، ۱۹، ۲۹ عددونه په دې سورة کې د عددي او شميرنې له نظره د پاملرنې وړ رمز دی.

له پورتنيو نښـو پرته، لکه څنګه چې له پورتني جدول څخه څرګنديږي د دغه سـورت درې نور آيتونه هم د ۱۹ عدد مضـــــرب دی: «الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ»، «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ» او «اهدِنَا الصِّـرَاطَ المُستَقِيمَ».

دغه راز عددي اړيکې ددې سورة د ځينو کليدي کليمو په اړه هم شتون لري. لکه د «صراط» او «الحَمْد» کلېمې چې هر يوه يې ۳۸ = ۱۹ x ۲ ځلې په قرآنکريم کې تکرار شوې دي!! همدا راز د «اِهدِنَا الصِّـرَاطَ المُستَقِيمَ» په جمله کې د «هدايت» کلمه له «صراط المستقيم» سره په اړيکه پوره ۱۹ ځلې په قرآنکريم کې راغلې ده!! همدا راز د غضب کليمه د خدای تعالی سره په اړيکه ۱۹ ځلې په قرآن کريم کې تکرار شوې ده[او ۵ ځلې له انسان سره په اړيکه].

کېدای شي وويل شي چې آيا دا اړيکې زمونږ لپاره څه هدايتي اړخ لري؟! آيا همدا چې روښانه کړي چې د قرآن کليمې [تشريعي آيتونه] د پيغمبر الفاظ نه دي. بلکې د طبيعت د پديدو [تکويني آيتونو] په څير د نظم او حساب او کتاب لرونکي دي. آيا مونږ د هغوی په الهي منشأ درلودلو نه ډاډه کوو؟ آيا کله هم د کوم بشر خبرې د داسې منظمو شمېريزو اړيکو لرونکي دي؟

سربېره پر دې لکه څنګه مخکې مو هم ورته نغوته کړې ددې سورة بل نوم «فاتحة الکتاب»، د (قرآن) د پيلوونکي په معنا دی، او له رسول اکرم(ص) څخه د مختلفو نقل شوو روايتونو څخه په ګټې اخېستو سره ويلی شو چې دا سورة د حضرت رسول(ص) په مهال کې هم په همدې نوم پېژندل کېده؛ نو د قرآنکريم ترتيب په همدې بڼه چې اوس موجود دی د حضرت رسول(ص) په توسه شوی دی او د قرآن د سورتونو ترمنځ اړيکه او نظم هم دا مدعا جوتوي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

[د یادونې وړ ده چې د رشاد خلیفه د شمېرېزو کشفیاتو ذکر، له قرآنکریم څخه د هغه د ځینو ناسمو برداشتونو او غلطو ادعاګانو د تصدیق په معنا نه دی. خو انصاف ایجابوي چې که یو څوک یو فضـــیلت ولري باید له پامه ونه غورځول شي، که څه هم له نظریاتو سره یې مخالف اوسو.]

## د حمد سورة په توسه د پېژندنې ارکان:

د حمد سورة یې له دې لیده د قرآن فهرست او د اصولو او معناو ټولګه ګڼلې ده چې د ایجاز او اختصار په توګه او له تر ټولو لږو کلیموسره، د شناخت او پېژندنې درې ګوني ارکان او بنیادونه، یعنې د توحید، آخرت او نبوت (هدایت او کتاب) مثلث یې په ډېره ساده توګه انځور کړی، او د هغه پر وړاندې د انسان تکلیف، ژمنتیا او تعهد ځرګندوي.

لاندینی انځور دا اړیکې ځرګندوي چې په راتلونکو مخونو کې به توضیح شي:




له پورتنیو درې ګونو [اصلي] سرلیکونو څخه هر یو کولی شو په ساده ترو او اسانو برخو او څانګو وویشو چې هره برخه یې په قرآن کې د بېلو بېلو فصلونو سرلیک دی، او په لاندې ترتیب یې تجزیه کولی شو:

### الف ـ توحید

۱ـ الوهیت: (د خدای پېژندنه او د هغه په نوم د هر کار پیل چې هغه په مخلوق زړه سواندی او مهربان دی) [بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ].

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ ربوبيت: (د خدای پېژندنه، د هغه دستروالي، پالنې، څښتنتوب، مشرتابه، رهبرۍ، سرورۍ او سيادت له اغېزو سره په مختلفو او ډول ډول جهانونو کې د خلقت د سترې دستگاه په چلولو کې، د هغه د ښکلا او کمال په نسبت د شکر او ستاينې له احساس سره) [الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ].

۳ – رحمانيت: (د خدای پېژندنه د هغه د عام او خاص رحمت له نغاړونکو اغېزو سره د هستۍ په جهان کې او د انسانانو په عالم کې) [الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ].

۱ – بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿۱﴾

[پيل کوم] په نامه د اللّه چې رحمان [لوراند] او رحيم [لورين] دی. [پر عامو او خاصو د رحمت خپرونکي خدای په نامه].

«بِسْمِ» په اصل کې «بِـإسم» دی، باء د مجرور اسم، د جر توری دی او دا جار او مجرور بايد يو فعل ته اړه ونيسي او خدای تعالی هغه فعل نه دی ذکر کړی ددې لپاره چې؛ بنده هر يو فعل چې مناسب گڼي په نيّت کې يې ونيسي، مثلاً قرآن پيل کوي او يا کوم بل کار، مناسب دادی چې «أَتَبَرّ كُ» يعني د خدای په نامه برکت لټوم يا «اَبْتَدِأُ» يعنې ابتدا کوم او په مسافرت کې «أسافر» يعنې مسافرت کوم، په نيت کې ونيسي.

او حق تعالی د هر سورة په پيل کې د «بِسْمِ اللَّهِ ... » جمله تکرار کړې ده ځکه هر سورة بېل کنفرانس او خپلواک مطلب دی او په جلا توگه قاعدې او گلبڼ لري او ورسره دا چې د هر سورة په پيل کې يې دا جمله د سرليک په توگه برېښنده راوړې چې بندگان پوه شي د ټولو سورتونو او آيتونو د نزول سرچينه او منشأ د هغه د رحمانيت او رحمت صفت دی او آيتونه يې د لطف او مهربانۍ لپاره نازل کړي دي. يعنې په جوته توگه څرگندېږي چې د هر کار او عمل ټېکاوتوب او تلپاتېتوب له خدای تعالی سره اړيکې پورې اړوند دی له همدې لامله د لومړني آية وحی چې پيغمبر(ص) ته وشوه هغه ته فرمان ورکوي چې د اسلام د تبليغ او بلنې د پيل پر مهال دا مهمه او ستونزمنه دنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای تعالی^(ج) له نوم سره پیل کړي: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ...» [علق۱(۹۶:۱)].

او وینو چې حضرت نوح^(ع) په هاغه سخت او هیښوونکي توپان کې پر کښتۍ د سپرېدو او د سترو څپو پر مخ د حرکت پر مهال چې هره شیبه له ستر خطرونو سره مخامخ وو، موخې ته د رسېدو، او پر ستونزو د بریالیتوب لپاره خپلو ملګرو ته وایې د حرکت پر مهال، او د کښتۍ د تم کېدو په ځای کې «بسم اللّه» ووایاست: «وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا...» [هود۴۱ (۱۱:۴۱)].

او په پایله کې هغوی دا له خطره ډک سفر په بریالیتوب سر ته ورساوه له سلامت او برکت سره له کښتۍ پلې شول لکه څنګه چې قرآن وایې: «قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ ...» [هود۴۸(۱۱:۴۸)].

او همدا راز «سلیمان»^(ع) په هاغه لیک کې چې ملکه «سبأ» ته یې لیکي، پیل یې په «بسم اللّه» کوي: «إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ...» [نمل۳۰(۲۷:۳۰)] دا لیک د سلیمان له لور دی او هغه، د رحمن او رحیم، اللّه په نامه دی.

او بیا هم د همدې اصل له مخې، د قرآن ټول سورتونه له «بسم اللّه» سره پیل کېږي ددې لپاره چې اصلي موخه چې سعادت ته د بشر هدایت او بېول دي چې له پیله تر پایه له ماتې پرته له بریالیتوب سره سر ته ورسېږي.

یوازې د «توبه» سورة چې «بسم اللّه» یې په پیل کې نه لېدل کېږي؛ ځکه چې د «توبه» سورة، د «مکې» له جنایتکارو او ترون ماتوونکو سره د جنګ له اعلان سره پیل شوی، او د جنګ اعلان د خدای تعالی له توصیف «رحمن او رحیم» سره سمون نه خوري.

اسم عبارت له عنوان، علامت (نښې) او لفظ څخه دی چې پر اشخاصو، وګړو، څیزونو او پر مادي او غیر مادي توکو او چارو ایښوول کېږي تر څو ماهیت یې له نورو مشخص او جلا او وپېژندل شي دا د تفاوتونو، توپیرونو او فرقونو د تشخیص او پیژندنې لپاره د هویت ټاکنه ده چې له مغزي فعل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انفعالاتو سره سرته رسیږي. اسم (نوم) اېښوونه کولی شي دوه حالته پیدا کړي: الف؛ بې له منځپانګې [تش]. ب؛ له منځپانګې سره [ډک].

په قرآن کې راغلي دي چې د یحییٰ نوم چې لــه دې تر مخه پر هیچا نه وو اېښوول شوی د خدای تعالی له لورې، پرښتو د هغه پلار زکریا ته بشارت (زیری) ورکړ: «یَا زَکَرِیَّا إِنَّا نُبَشِّـرُکَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ یَحْیَى لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِیًّا» «[ددې دعا لـــــه قبلېدو سره، پرښـــتو پرې غږ وکړ] ای زکریا، موږ تاته د یو هلک زېری درکوو، چې نوم یې یحیی دی چې تر هغه مخکې مو څوک له داســې ځانګړتیاو سره نه دی نومولی.» [مریم۷(۱۹:۷)]. یحیی د حَیّ [حیات، ژونـد] له رېښې، د بني اسرائیلو لپاره یې د یحیی په ژوند ښونکي او بدلون راوړونکي شـتون دلالت کاوه او هم هغه وو چې د عیسی مسیح د رسالت لپاره یې ډګر برابر کړ، د مسیح نوم هم پرښتو مریم ته ابلاغ کړی وو؛

«إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِکَةُ یَا مَرْیَمُ إِنَّ اللَّهَ یُبَشِّرُکِ بِکَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِیحُ عِیسَـى ابْنُ مَرْیَمَ...» [آلعمران۴۵(۳:۴۵)]. [درياد کړه] هغه مهال چې پرښـــتو وویل: ای مریم! خدای تعالی په ښتینې توګه [او نــه خیالي] تاته په یوې کلیمې له خپل لورې زېری درکوي؛ چې نوم یې عیسیٰ مسیح د مریم زوی دی....».

او همدا راز نور نومونه: موســیٰ [له اوبو نېول شــوی]، عیســیٰ، مریم، انجیل او ... ټول د واقعي ماهیت معرفي کوونکي دي. او همدا راز «اســماء الحسنیٰ» [د خدای تعالی نیک نومونـه] چې هر یو د خدای تعالی په یوه صفت دلالت کوي، او په قرآنکریم کې کابو سل نومونه د خدای تعــالی لپاره راغلي دي چې بېلګې یې په همدې سورة کې کتلی شو: اللّٰه، رحمٰن، رحیم، مالک یوم الدین. او په دې سـورة کې تر ټولو غوره ته، یا یو له تر ټولو غوره ته چې «رحمت» دی په دوو بڼو «رحمانیّت» او «رحیمیّت» کې اشاره کوي.

خــو د «اللّـه» نــوم د هغــه لــه نــورو نومونــو تــر ټولـو جــامع دی؛ بـل هــیڅ یــو نــوم هــم هاغــه جامعیــت، چــې دا نــوم یــې لــري، نــه لــري. چــون

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغــوی د الهــي کمالونــو يــو، يــو څرګنــدوي خــو دا نــوم د ټولــو کماليــه صفتونو د نغاړونکي او يو ځای کوونکي ذات ښکارندوی دی.

نو «اللّه» د خدای تعالی د ذات اسم دی. نور نومـونه چې له هغه پېژنو، ټول د هغه ستايننومونه او صفتونه دي. د بېلګې په توګه ويلی شو چې؛ لکه د هر انسان د نومونو په څېر چې انسان په خپله پېژندپاڼه [تذکره] کې يو ځانګړی او مشخص نوم لري خو کېدی شي ستايننومونو يې لکه: شجاعت، مديريت، مهرباني او نور هم وي. د «اللّه» کليمه په اصل کې «اله» ده او همزه يې د ډېر استعمال له لامله حذف شوې ده.

د «اللّه» د لغت د رېښـــې په اړه څو نظرونه شـــتون لري. ځېنو ويلي دا کليمه له «اَلَهَ» څخه مشــتق شــوې او ځېنو نورو ويلي چې له «وَلَهَ» اخېســتل شوې ده او «اِلٰه» فِعال د مفعول په معنا دی لکه کتاب د مکتوب په معنا.

که له «اَلَـــــهَ» مشــتق شــوی وي يعنې عَبَدَ، نو اللّٰه يعني د نمانځنې او پرستش وړ ذات چې لـــه ټولو اړخونو بشپړ او کامل دی. ځکه هاغه موجود چې پخپله د بـــل مخلوق دی او يا د نقص لرونکی دی د نمانځنې او پرستش وړ به نه وي نو همدا چې ويل کېږي [الالٰـــه] يعنې هغه ذات په داسې ډول دی چې بـــايد ونمانځل شي او پرستش يې وکړل شي. او قهراً دا معنا په دې کليمه کې نغښــتې ده، چې هغه د ټولو کماليه صـفتونو جمع کوونکی او له هر ډول نقص او نيمګړتياو بري، جلا او سپېځلی دی.

او که له «وَلَهَ» مشــتق شــوی وي، وَلَـــــهَ يعنې هېښــتيا، تحير؛ واله يعني حيران او يا د عاشــق او ليوال په معنا دی او له دې سـببه يې خدای تعالی ته اللّٰه ويلي چې د هغه د مقدس ذات پر وړاندې حيران او يا پام لرونکي او عاشقان او هغه ته پناه وړونکي دي.

ډېری خلک «اللّه» د خپل خدای او خالق په عنوان مني او پوهېږي چې يو خدای هغوی خلق کړي او پنځولي دي، خو يوازې تش د خدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون باور لري، پرته لــه دې چې له هغه سره يې قلبي او د زړه اړيکه ټينګه کړې وي؛ چې قلبي اړيکه په خدای باورۍ، خدای نمانځنې او عبادت کې تر ټولو مهمه موضوع ده. پوهېږو چې په جهان کې ډېر ستر کهکشانونه شتون لري چې زموږ او هغوی تر منځ هېڅ ډول اړيکه نشته، موږ يوازې د هغوی پر شتون باور لرو، چې له مينې پرته خدای پېژندنه هم د همدې په څېر يو ډول خدای پېژنــــدنه ده چې په همدې حد يعنې تش باور کې خلاصه کېږي. خو د «بِســـمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ» جمله موږ پوهوي هغه چا چې موږ خلق کړي يو، موږ ته رحمت لري، زموږ په نسبت بې تفاوته نه دی، د هغه رحمت د لمر د وړانګو او نور په څېر پر موږ لګېږي.

قرآن د تمثيـل پـه مقـام کې وايي: «اللّـٰهُ نُورُ السَّـــمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ...» [نور۳۵(۲۴:۳۵)]. خدای د هســـتۍ د جهان نور دی. که نور نـــــه وي ټول څيزونه په تياره او چوپتيا کې دي. که د هغه تودوخه نه وي کوم ژوند او حيات به شتون ونلري، له خدای سره زموږ اړيکه ډېره نژدې او تنګاتنګه ده او هره شېبه د هغه له رحمت سره مخامخ يو.

زموږ لپاره د خدای رحمت دوه ډوله ځلاوې لري؛ «رحمٰن» او «رحيم»؛ رحمان د خدای عام رحمت د ټولو لپاره دی، لکه د لمر د نور د وړانګو په څېر چې د ځمکې پر هر ځای يو شان لګېږي، دا رحمت «يو طرفه» رحمت دی، خو «رحيم» والی يې، د هغه دوه اړخيز رحمت دی؛ لکه د ځمکې هره ټوټه چې د جذب د ډېرتړې وړتيا له کبله، ډېره تودوخه او نور اخلي. د بېلګې په توګه تيره د لمر نور ډېر لږ جذبوي او ډېرتر منعکس کوي، خو اوبه او خاوره او دښته او ځنګل، د نورو په نسبت ډېر نور او تودوخه جذبوي، لمر هم هغوی ته تر نورو ډېره تودوخه او نور ورکوي.

«رحيم» د خدای تعالی خـــاص رحمت دی، د هاغو بندګانو په نسبت چې خپل ځانونه د هغـه د رحمت پر وړاندې وګوماري، پر هغوی ډېر رحمت کوي. لکه د ښوونکي په څېر چې ټولو زده کوونکو ته يو شان درس ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هاغه شاګردان چې استاد ته ښه غوږ نیسي او ډېرې پوښتنې ترې کوي، هغوی ته ډېرتره پاملرنه لري او د هغوی د ډېرې ودې او کمال لپاره هغوی ته ډېر تمرینونه ورکوي. په قرآن کې ۱۰ ځلې [۱۰هم يو بشپړ عدد دی] تکرار شوي دي چې خدای تعالی ټولو بندګانو ته «رَءُوفٌ رَحِيمٌ» دی، يعنې ټول خلک له خدای تعالی سره هر يو د مستقلې اړيکې او ارتباط ورتيا او استعداد لري او هغه له خپل خلق سره مينه کوي او پر هغوی مهربان دی، خو هغوی له خپل خدای سره کومه اړيکه او ارتباط نه جوړوي.

نو پالونکی څښتن يو عام رحمت لري او يو خاص رحمت. له خپل عام رحمت سره يې ټول موجودات خلق کړي او پنځولي دي چې انسان هم د هغوی له ډلې دی. انسان چې يوازينی مکلّف موجود دی او پخپله د خپل ځان مسئول دی که کومې دندې او وظيفې يې چې پر غاړې ايښوول شوي سر ته ورسوي له الٰهي خاص او ځانګړي رحمت څخه به برخمن شي. نو «رحمٰن» هاغه بې حسابه رحمت ته نغوته ده چې هر ځای ته رسېدلی او د مؤمن او کافر او حتا انسان او ځناور او جماد او نبات او داسې نورو ټولو تر منځ توپير نه کوي خو «رحيم» يو خاص رحمت ته نغوته ده چې مطيع او فرمانبردارو انسانانو ته ځانګړی دی.

دا چې په «**بسم اللّه**...» کې د الله له ځانګړي او خاص نوم وروسته يې يوازې د رحمانيت او رحيميت په صفتونو تکيه کېږي او دلته په دې حساس دريځ کې د الله نور صفتونو ته نغوته نه ده شوې، ښايي لامل يې دا وي چې د هر کار په پيل کې اړينه ده له داسې صفته د مرستې غوښتنې په لټه کې شو چې د آثارو او اغيزو وړانګې او ځلا يې پر ټول جهان خپرې دي، ټول موجودات يې نغاړلي او هر ځېلې او په ستونزو ککړ يې په بحراني شېبو کې ژغورلی دی.

په دې اړه پخپله په قرآنکريم کې الله تعالی فرمايي: «وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ» [اعراف۱۵٦(۷:۱۵٦)]. «او زما رحمت ټول څيزونه نغاړلي دي». او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل ځای کې د خدای تعالی د عرش د لېږدوونکو له ژبې لولو: «...رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً...» [غافر۷(۷:۴۰)] «زموږ پالونکی ښتنه تا خپل رحمت پر هر څیز خپور کړی دی». له بل لور وینو د سختو پېښو او خطرناکو دښمنانو د منګولو څخه د خلاصون لپاره پیغمبرانو د خدای رحمت ته پناه وړله: د «موسی»<sup>(ع)</sup> قوم د فرعونیانو له منګولو څخه د خلاصون لپاره وایي: «وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ...» [یونس۸۶ (۱۰:۸۶)] «خدایه موږ له خپل رحمت سره وژغوره...». د «هود» او پلیونانو په اړه یې په قرآن کې لولو: «فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا...» [اعراف۷۲(۷:۷۲)] «هود او د هغه پلیونانو ته مو [د دښمنانو له منګولو څخه] د خپل رحمة په توسه ژغورنه وبښله...».

اصولاً هر مهال چې د کوم حاجت غوښتنه له خدایه کوو د هغه ستاینه له هماغو صفتونو سره کوو چې زموږ له حاجت سره تړاو لري، د بېلګې په توګه حضرت عیسی مسیح<sup>(ع)</sup> د «مائده» [مخصوصې غذا] د غوښتلو پر مهال داسې وایي: «قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ ... وَارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ» [مائده۱۱۴(۵:۱۱۴)] «یا الهي زموږ پالونکی ښتنه له آسمانه موږ ته یوه مائده نازل کړه ... او موږ ته روزي راکړه او ته بهترین روزي ورکوونکی یې». «نوح» د خدای تعالی ستر پیغمبر هم موږ ته را زده کوي، چې له کښتۍ څخه په یوه مناسب ځای کې، دا سې دعا وکړي: «...رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ» [مؤمنون۲۹(۲۳:۲۹)] «پالونکی ښتنه! ما په مبارکه بڼه راکښته کړه چې ته بهترین کښته کوونکی یې». او همدا راز «زکریا» له خدایه د یو زوی د غوښتلو پر مهال چې د هغه ځای ناستی او وارث اوسي خدای تعالی د «خَيْرُ الْوَارِثِين» له صفت سره ستایي او وایي: «... رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ» [انبیاء۸۹(۲۱:۸۹)] «پالونکی ښتنه ما یوازې مه پرېږده چې ته بهترین د وارثانو یې».

پر دې بنا د کارونو د پیل په اړه کله چې غواړو د خدای له نوم سره پیل وکړو باید د هغه د پراخ رحمت لمن ونیسو هم عام رحمت یې او هم خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت يې آيا په چارو کې د پرمختګ او پر ستونزو د بريالیتوب لپاره له دې صفتونو څخه مناسبتر کوم صفت شتون لري؟!

په زړه پورې دا چې لکه د جاذبې د ځواک په څېر، عمومي جنبه لري او زړونه يو تر بله نښلوي همدا د رحمت صفت دی، له خالق سره د خلق د پيوند لپاره هم بايد د رحمت له صفته ګټه واخیستل شي.

رښتيني مؤمنان د چارو په پيل کې د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» له ويلو سره له هر ځايه زړه جلا کوي او په خدای پورې يې تړي، له هغه مرسته او ملتيا غواړي، له هاغه خدايه چې رحمت يې خپور او نغاړونکی دی، او هيڅ موجود له هغه، بې برخې نه دی.

په قرآن کې په ځلونو راغلي دي چې مشرکينو د خدای تعالی رحمانيت نه منه او هر مهال به چې هغوی ته ويل کېدل د رحمان لپاره سجده وکړئ، ويل يې رحمن څه شيز دی؟ «قَالُوا وَ مَا الرَّحْمَنُ» د خپلې زمانې له مشرکينو سره د اسلام د پيغمبر ستونزه د خدای د وجود اثبات نه وو. اصلاً په قرآن کې داسې هيڅ آيت شتون نه لري چې کوم پيغمبر غوښتي وي الله ثابت کړي، اُمتونو اللّه منه، خو په شرک وزمه او په خرافاتو ککړې بېه. له مشرکينو سره د پيغمبرانو ټول بحث د ربوبيّت پر سر وو. له نمرود سره د حضرت ابراهيم خبره او له فرعون سره د حضرت موسی خبره د ربوبيّت او رحمانيّت پر مسئلې وه.

۲ - «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۲﴾»

حمد [= منه او ستاينه] په ټولېزه توګه يوازې د الله لپاره دی چې ربّ [پالونکی ښبتن/ د واک او اختيار خاوند] د جهانونو دی [= نړۍ پال خدای].

په پښتو کې داسې يوه کليمه چې د حمد د ژباړې په توګه وکارول شي، نه لرو. خو دوه داسې کليمې شته چې د حمد معنا ته نژدې دي او هم په پښتو کې معادل لري چې د حمد د ژباړې لپاره د هغوی له معادله کار اخیستل کېدی شي. يوه «مدح» ده چې ژباړه يې «ستاينه» ده او بل «شکر» چې په «منه» ژباړل کېږي. خو هيڅ يوه کليمه په يوازې توګه د حمد د معنا رسوونکې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «مدح» کليمه «حمد» ته نږدې ده او حتا ځينې داسې انګېرې او قوي احتمال ورکوي چې لـه يوې کليمې دوه ډوله تلفظونه وي، لکه څنګه چې په عربي ژبه کې داسې بېلګې ډېرې لرو لکه «خلص» او «لخص» – «ايس» او «يئس» چې د هر دواړو توري يو دې خو ځايونه يې بدل شوي دي.

«مدح» د ستاېنې په معنا دی. ستاينه له ځانګړو انساني احساسونو څخه ده؛ يعنې انسان تر دې بريده د احساس او ادراک لرونکی دی چې کله د کمال او جلال، ښکلا او ارزښت سره مخامخ شي، دا احساس د غبرګون په بڼه په هغه کې پيدا کېږي او هغه ستايي. دا احساس په ځناورو کې نشته. ځناور نه هغه کمال او جلال درک کولی شي او نه دا قدرت لري چې دا صفتونه وستايي.

البته کله، کله د ستاېنې عمل په انسان کې د پستی او ټيټ توب په بڼه څرګندېږي چې هغې ته «غوړه مالي» [او چاپلوسي] وايي او له رذيله صـفتونو څخه ګڼل کېږي. چاپلوسي په هاغه مورد کې ده چې انســان د يوې بې حقيقته چارې ســتاينه وکړي. او دا ډېره ســتغه او ناوړه ده چې هغه قدرت او ځواک چې الله تعالی ورتـه ددې لپاره ورکړی دی چې واقعي کمالونه او جمالونه او عظمتونه او ښـکلاوې وسـتايي، هغه د داسـې يو موجود په پښـو کې د تمې له مخې له لاسـه ورکړي چې د سـتاېنې هيڅ ارزښــت نلري. دا قدرت ددې لپاره دی چې انسـان هغه لوړ او عالي احسـاس يعنې د يو کمال تمجيد او تکريم او تعظيم ارضـــاء او اشـــباع کړي نه دا چې هغه د تمې د حس په خدمت کې وګومارل شي چې يو ډول پستي او ټيټوالی دی.

په واقعي او رښـتينو سـتاينو کې هيڅ ډول تمه شـتون نه لري، بلکې دا يو فطري او طبيعي چار دی. کـــوم مهال چې انسان لـــه يو ښـــکلي هنر سره مخامخ کېږي، د هغه په ښـکلا کې ډوبېږي او بې اختياره د هغه ستاينه کوي. که څوک پوښـــتنه وکړي چې مګر څوک ددې ســتاېنې په مقابل کې څه څيز درکوي، څه ځواب ورکوو؟ سـمدلاسـه به يې په ځواب کې وايو: مګر اړينه ده څه څيز راکړي؟ زه انسـان يم او انسـان له دې لامله چې کله د کوم عظمت او

جلال او جمال او کمال سره مخامخ شي هرومرو خاضع کېږي او خپله خضوع د ستاينې په بڼه ښکاره کوي. دا د «مدح» د کليمې معنا ده خو د «حمد» کليمه يوازې همدا مفهوم نه لري.

د سپېڅلتيا او پاکوالي بل احساس په انسان کې شتون لري چې بيا هم د انسان له امتيازونو او ځانګړتياو څخه دی او هغه «مننه» ده چې د «شکر» د کليمې ژباړه ده او دا په هاغه مهال کې ده چې د چا لخوا انسان ته کوم خير ورسېږي؛ د انسان د انسانيت تقاضا ده چې د هغه په نسبت د منني څرګندونه وکړي.

د بېلګې په توګه کله چې يو انسان په خپل موټر کې له يوه چمه د تېرېدو پر مهال کې له يو بل موټر سره مخامخ شي په داسې حال کې چې هغه د تېرېدو حق لري او کولی شي له لارې استفاده وکړي، خو که هغه تم شي او موږ ته اجازه راکړي چې تر هغه مخکې تېر شو ، انساني ادب چې د انسان له سپېڅلي فطرته سرچينه نيسي تقاضا کوي چې د «مننې» په ويلو سره يا د سر يا لاس په ښورولو سره له هغه «مننه» وکړو. دا صفت تر دې بريده په ځناور يا حيوان کې شتون نلري او د انسان له ځانګړتياو دی؛ او دا چې خدای تعالی په قرآن کې پوښتنه کوي: «هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ» [رحمن۶۰(۵۵:۶۰)] داسې يوه پوښتنه ده چې مخاطب يې انساني سليم فطرت دی او د انسان سپېڅلی وجدان يې ځواب ورکوونکی دی.

نو دلته «حمد» د مدح په معنا، د پالونکي ښبتن ستاينه او تمجيد دی، او د الله د نعمتونو پر وړاندې د انسان د شکر او منني څرګندونه هم ده؛ بله دا چې «اَلْحَمْدُ» مبتداء دی او خبر يې «اللّه» دی، او خدای تعالی دا جمله اسميه راوړې ده چې پر استمرار او دوام دلالت کوي او که جمله يې فعليه وای پر يو محدود زمان او مهال به يې دلالت کولی، نو اسميه جمله فصيح تره ده چې استمرار لري. او بله دا چې په دې جمله کې له الهي نومونو څخه «اللّه» انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی چې د خدای تعالی د ذات اسم دی او د کامل الذّات خدای په معنا دی چې د ټولو کماليه صفتونو نغاړونکي مجموعه ده.

او دا چې ويل شوي دي هر څوک چې خپل ځان وپيژني خدای هم پيژني، ډيره سمه او ستره خبره ده. د انسان له خپله ځانه بشپړه پېژندنه، داسې يوه لار ده چې په توسه يې انسان د الله پېژندنې ته رسېږي. د انسان د پېژندنې يوه لاره همدا د انساني ځانګړو احساسونو پېژندل دي چې يو له هغوی هم د منني احساس دی چې بولندوی يې وجدان دی او د چاپيريال له ښوونو او روزنو سره اړيکه نه لري. او له سيمه ايزو ادبونو او رسمونو څخه نه ګڼل کېږي او يو او بل اقليم ته ځانګړی نه دی چې د زمان او مکان له تغير سره ګډوډ شي، حتا کله، کله هم يو د بل ضد شي، لکه خولۍ له سره ايسته کول او ايښوول چې هر دواړه د درناوي نښې دي خو هره يوه په بېله، بېله ټولنه کې دود دی. په هيڅ يوه ټولنه کې ليدل شوي نه دي چې د نېکۍ بدله په بدۍ ورکړل شي او دا د سيمه ايزو دودونو د برخې په توګه توجيه کړي.

نو حمد نه خالصه مدح ده او نه خالصه منه؛ نو څه څيز دی؟ ويلی شو چې که هر دواړه سره يو ځای کړو ټولګه يې د حمد مفهوم دی؛ يعنې داسې يو مقام چې هم د ستاينې وړ دی له دې لامله چې عظمت او جلال او حسن او کمال او ارزښت او ښکلا لري، او هم د منني وړ دی د هاغو احسانونو او نېکيو له لامله چې د هغه له لوري رسېدلي دي، چې د هر دواړو حالتونو د يو ځای څرګندولو لپاره د «حمد» کليمه کارول کېږي.

## حمد يوازې خدای تعالی ته ځانګړی دی:

د «الحمد» په پيل کې چې کوم «الف» او «لام» راغلي دي، د خدای تعالی لپاره د هر حمد او ستاينې منحصر او ځانګړي ګڼل دي، يعنې په جهان کې د هر حمد او ستاينې منشاء او سرچينه خدای تعالی دی او نورې ټولې ستاينې د خدای تعالی د حمد په اوږدوالي کې دي[نه په عرض کې]. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک کوم هنر لري، عقل يې کوم ځيز ته رسېږي، له دنيا برخمن دی، يا د کوم خير او خدمت توفيق مومي، ټولو له يوه ځايه منشاء او سرچينه نېولې ده. نو «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ»، يعنې خدای تعالی د جهان د ټول انسانانو رئيس، د جهان چلوونکی، سرور او د اختيار خاوند دی. دا دوه آيتونه د حمد پيليزه، د هاغې ستاينې احساس دی چې د هر ښه او ښکلي په نسبت يې پيدا کوو، د يو ښکلي او خوشبويه ګل لېدل موږ تحسين او ستاينې ته اړ باسي او ستاينه يې کوو، خو بايد له ځانه وپوښتو چې اصلي منځته راوړونکی يې څوک دی؟

د مولوي په وينا:

ای دوست شکر خوشتر يا آنکه شکر سازد    خوبي قمر بهتر يا آنکه قمر سازد

د بشر د علايقو او ليوالتياو يوه برخه شيرينيو [خواړو] او خوندرو خوړو ته ده. هو هغه چې مېوې، شيرينۍ او خوراکي خوندونه يې جوړ کړي دي او د تريخوالي، خوږوالي، ترېووالي او تروشوالي احساس يې زموږ په ژبه کې ايښی دی بهتر دی، يا د شيرينۍ مواد؟ د قمر ښه والی بهتر دی يا هغه چې قمر يې جوړ کړی دی؟

قمر سپوږمۍ ده چې د ټولو ښکلاو سيمبول دی. د بشر ليوالتيا راز، راز ښکلاو ته، له ظاهري ښې، اندامونو او نورو څخه چې غريزي اړتياوې يې پوره کوي او ددې په څېر نورې ښکلاوې، بايد هغه د هاغه چا پر لور بوځي او پام يې ورته واړوي چې دا احساسات يې په هغه کې ايښي دي! په رښتيني توګه په انسان کې د عشق او عاطفې منشأ او سرچينه چرته ده؟

ای باغ! تو يی خوشتر يا ګلشن ګل در تو    يا آن که برآرد ګل صد نرګس تر سازد؟
ای عقل! تو به باشی در دانش و در بينش    يا آنکه به هر لحظه صد عقل و نظر سازد؟

زموږ د توجهاتو او پاملرنو يوه برخه ګل او شنېليو ته، د طبيعت ښکلاو ته، عطر او رنګ او بوی او دا ډول هېښوونکو ننداړو ته ده. آيا دې مصنوعاتو ته جذب شوي يو، يا هاغه جميل خدای ته چې دا ټولې ښکلاوې او ښېګڼې يې جوړې کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې د عقلانيت عاشقان دي؛ ماډرن عقلانيّت، پر خپل ځان بسيا او خپل بنسټي عقل! او خدای يې يو خوا ته ايښی. آيا له خپله ځانه مو کله پوښتلي چې دا عقل موږ ته چا راکړی دی؟

دا هم له شونتيا لېرې نه ده چې د «حمد» په معنا کې بـــل مفهوم هم شـــامل وي او هغه د نمانځنې او پرســـتش مفهوم دی. په بله وينا: حمد د نمانځنې په توګه د مننې لپاره ســتاينه ده. بنـايي ددې آية پر بنا حمد خدای تعالی ته ځانګړی دی او له هغه پرته بل محمود نشـته، له دې مخې د حمد په مفهوم کې د نمانځنې مفهوم هم شته دی.

مفسرين په دې اړه په يو نظر دي چې د آية معنا دا ده چې ټول «حمد»ـونه د خدای تعالی دي. که د «حمد» په کليمه کې له مننې پرته د عابدانه خضوع او فروتنی مفهوم نه وي او «حمد» يوازې د مننې کول وي ولې انسان نبايد د انساني توکو پر وړاندې چې خدای تعالی هغه ته ورکړې مننه وکړي؟ هغه مخلوقات چې خدای تعالی د هغوی په توسه انسان ته خير رسوي، بايد د هغوی مننه‌وی او قدر پېژندونکي هم اوسي. خو په پام کې ولرو چې په هماغه څيز او خير کې چې د بنده له لورې انسان ته رسېدلی دی، له هغه مخکې خدای تعالی د شکر او مننې استحقاق او وړتيا لري.

نو، له دې چې [«حمد» الله ته ځانګړی دی] څرګندېږي چې معنا يې يوازې مننه کول نه دي بلکې ستاينه او نمانځنه هم پکې نغښتي دي. خدای تعالی له دې لامله چې د نمانځنې او پرستش يوازينی وړ ذات دی او له دې لامله چې رحمٰن او رحيم دی د هغه ستاينه او مننه او نمانځنه کوو.

لنډه دا چې حمد يو دننی انساني سپېڅلی احساس دی او د انسان د روح له تله سرچينه نيسي چې جمال او جلال وستايي او د عظمت او ستروالي پر وړاندې خاضع او تواضع کوونکی اوسي. او دا چې د حمد له سورة سره مل الهي معرفت او پېژندل اړين دي، يعنې تر هاغې چې انسان د خدای په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړ معرفت پیدا نکړي، نشي کولی د حمد دا یو سورة په سم او صحیح ډول او په واقعي بڼه، نه تش د ژبې په څوکه، ووایي.

اصولاً دلته د «الله» توصیف په «رَبِّ الْعالَمِینَ»، په واقعیت کې د مدعا له بیان وروسته د لامل د ذکر دی، ګواکې یو څوک پوښتنه کوي: ولې ټول «حمد»ـونه، الله ته ځانګړي دي، په ځواب کې ویل کېږي ددې لپاره چې هغه «رَبِّ الْعالَمِینَ»، او د جهانونو پالونکی څښتن دی.

په دې آیة کې ربوبیّت ته چې د الله تعالی بل صفت دی، هم نغوته کوي. په انګلیسي ژبه کې د «ربّ» ترجمه په Senior یا Lord کوي، یعنې خدای تعالی رئیس او د اختیار څښتن دی. کېدی شي خدای تعالی د جهان د خالق او مهربانه او زړه سواندي پنځګر په توګه ومنو او باور پرې ولرو، خو پوه نشو چې هغه زموږ رئیس دی او ارباب مو هم هغه دی چې دا جهان ګرځوي، دا چې تاسو یو څوک خپل رئیس او د اختیار څښتن او هر چارې وګڼئ تر دې ډېر توپیر کوي، چې یوازې د هغه پنځګري او خالقیّت ومنئ!

په لومړي حالت کې، هغه ته نیازمند او اړمن یاست او سعی کوئ رضایت یې جلب کړئ، او په دویم حالت کې هغه لکه د یو ساعت ساز په څېر ګڼئ چې له جوړولو وروسته له ساعت سره کوم کار نلري. ډېری له خلکو، هر مهال چې کومه اړتیا او حاجت ولري، خدای پسې ځي! دا ځان پالې او ځان غوښتې خدای پېژندنه ده چې خدای، پیغمبر، امام او پیر د خپلو حاجتونو د پوره کولو په خدمت کې غواړي؛ خو چا چې «ربّ» پېژندلی وي، ډار او هیله یې هغه ته ده، زړه یې د هغه په یاد ټوپونه وهي او پوهېږي چې د هغه په نعمت او لورېنه ساه اخلي او وباسي او د سترګو باڼه یې د هغه په لطف او لورېنه ښکته او پورته کېږي. د «رب» په کلیمه کې هم د څښتن توب او هم د اختیار خاوند مفهوم نغښتی دی او هم د بشپړوونکي او پالونکي معنا لري. خدای تعالی د ټولو عالَمونو د اختیار خاوند او هم د ټولو عالَمونو کمال ته رسوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته خدای تعالی د ټولو عالَمونو یو ستر جهان خلق کړی دی چې د هاغو عالَمونو موجودات په ځانګړو لاملونو، هر کمال چې شونی دی ولري له هماغه پیله یې لري. په بله وینا هیڅ ډول استعداد پکې شتون نلري بلکې ټول فعلیت ته رسېدلي دي یعنې له هماغه پیله چې پنځول شوي دي له خپل ټول ممکن کمال سره پنځول شوي دي او په بل تعبیر «بدء» او «عود» یې یعنې پیل او پای یې یوه ده. هغوی له هماغه حیثه چې الهي مخلوق دي او منځته یې راوړي دي د هغه مربوب دي. خدای تعالی له هماغه حیثه چې د هغوی خالق او منځته راوړونکی دی د هغوی ربّ دی.

خو کوم عالَم چې موږ پکې ژوند کوو، یعنې د دنیا عالَم یا د مادې عالَم، د تدریج عالَم دی او نظام یې په دې ډول دی چې وجودونه له نقصه پیل کېږي او د کمال پر لور ځي، بدء او عود یې یو نه دی، پیل او پای یې دوه دي. هغوی له یو حیثه د خدای تعالی مخلوق دی او له بله حیثه د هغه مربوب.

د طبیعت عالَم په داسې حال کې چې پخپله د یو عالَم په مجموعه کې دی د نورو عالَمونو تر څنګ غیر له هغوی، له دې اعتباره چې د مختلفو انواعو لرونکي دي او هر نوع او ډول یې له ځانګړي نظام سره ژوند کوي او په حقیقت کې هر ډول یې چې پخپله یو عالَم هم لري، د مختلفو عالَمونو لرونکي دي او ټول د هغوی په ټوله کې همدا ډول دي. د جماداتو عالَم، د نباتاتو عالَم، د حیواناتو عالَم، د انسانانو عالَم، د افلاک عالَم، ټول له نقصه د کمال پر لور روان دي. هیڅ یو د پیدا کېدو پر مهال په بشپړ او کامله بڼه نه دي پنځول شوي. خدای تعالی ددې ټولو عالَمیانو موجودات نهایي کمال ته رسوي ځکه چې هغه ربّ العالمین دی.

نو د «عَالمِین» کلیمه د «عالم» جمع ده او عالم، د یوې مجموعې په معنا دی چې مختلف موجودات چې د ګډو صفتونو او یا د مشترک زمان او مکان لرونکي دي، مثلاً وایو د انسان علم، د حیواناتو عالم او د نباتاتو عالم، او یا وایو: د شرق عالم، او د غرب عالم، اوسنی عالم، پخوانی عالم، پر دې بنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

«عـالم» پـه يوازې توګـه د جمعې يـا ټولګې معنا لري او هغـه مهال چې د «عالمين» په بڼه تړلې جمع کېږي ددې جهان ټولو مجموعو ته اشاره ده.

معمولاً د «ين» په توسه جمع کول د عاقل د جمعې لپاره کارول کېږي او په قرآن کې په ډېرو ځايونو کې عالمين د انسان په اړه راغلى دى خو په ځېنو ځايونو کې پراختره معنا لري، چې انسانان او د جهان نور موجودات رانغاړي، لکه: «فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ» [جاثيه۳۶(۴۵:۳۶)] «حمد او ستايل الله ته ځانګړي دي چې د آسمانونو او ځمکې رب دى او د جهانيانو پالونکى څښتن دى». او کله چې موسى(ع) فرعون د پالونکي څښتن منلو ته وبله: «قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ. قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ» [شعراء۲۳(۲۶:۲۳)او۲۴] «فرعون وويل او د عالميانو رب څه څيز دى؟ [موسى په ځواب کې] وويل رب د آسمانونو او ځمکې او هاغه څه چې ددوى په منځ کې دي».

د قرآن له آيتونو بريښي چې اصولاً دا جهان د روزنې او پالنې جهان دى. انسان چې پخپله په مختلفو ډلو [نېکو او بدو] وېشل کېږي ټول وګړي يې د روزنې او پالنې موندو په حال کې دي؛ او په زړه پورې دا چې ګواکې جهان د کروندګرۍ لپاره مساعد او وړ چاپېريال دى او هر ډول زنې او تخم چې پکې وشيندل شي پالنه مومي؛ په دې عالم کې نه يوازې نېکان تکامل مومي بلکې بدان يعنې کوم کسان چې بد تخم کري هغوى هم ددې جهان په نظام کې خپل پړاوونه وهي. د بنى اسرائيل په سورة کې فرمايي:

« مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا. وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا. كُلًّا نُمِدُّ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا.» [اسراء۱۸(۱۷:۱۸) تر۲۰] «هر څوک چې بيړه ناک [= د دنيا ژرتېرى] [ژوند] وغواړي، موږ هم د هغه لپاره هاغه څه چې وغواړو [له هاغه مشيّت او نظامونو سره سم چې په جهان کې مو ګومارلي دي]، د هاغه چا لپاره چې اراده وکړي بيړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو، ورپسې دوزخ مو ورته [د ظلم د پايلو د ناليدلي نېولو په غبرګون کې] چمتو کړی دی چې رټل شوي شړل شوي پکې ننوځي. او [په مقابل لور کې] هر څوک چې آخرت [= تلپاتي هستوګنځی] وغواړي او ددې [موخې] لپاره له هغه سره وړ هڅه وکړي، او مؤمن وي [= په ايماني انګېزه، نه رياکارۍ يې عمل کړی وي]، د داسې کسانو هڅې به حاصل ورکړي. موږ ټولو ته مرسته رسوو؛ هم هغوی [= دنيا طلبو] او هم دوی [= آخرت طلبو] ته ورکړه کوو او ستا د پالونکي ښبنتن ورکړه له هيچا منع شوې نه ده».

لنډه دا چې هر څوک چې دنيا غواړي او دنيايي تخم وکري هغه ته مدد رسوي او کوم تخم يې چې کرلی ثمر ته رسېږي او د ثمر اندازه يې د الهي مشيت او ارادې سره سم ورته رسېږي. چون د داسې وګړو موخه يوازې دنيايي ده او د انساني اصلي لارليکې وتلي دي پايله يې دوزخ دی. خو که څوک دنيايي موخه ونلري او آخرتي تخم وکري او د هغه په لار کې هڅه او کوښښ وکړي دا عمل هيڅکله نه ضايع کېږي او نتيجې ته رسېږي. كُلًّا نُمِدُّ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ په ټوله کې هم له هغې ډلې سره مرسته کوو او هم له دې ډلې سره مرسته کوو. لنډه دا چې دا دستګاه او چاپيريال، د پالنې لپاره مساعده ځمکه او بستر دی او چا چې هر څه وکرل هغه به ريبي.

نو د سورة پيل له خدای پېژندنې په دريو اړخونو: الوهيّت، رحمانيّت او ربوبيّت کې دی او ټول قرآن پر دې دريو اصلونو بنا شوی دی.

### ۳ – «الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾»

[هماغه لورين او لورانډ خدی] پر عامو او خاصو د رحمت خپروونکی.

دا صفتونه د سورة په پيل کې د «اللّه» له مبارک نوم «بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» سره او دادی دلته بيا له «رَبِّ الْعَالَمِينَ» وروسته راغلي دي، يو وصف او يوه ستاينه د دوو متفاوتو نقشونو لپاره؛ لومړی، الٰهي ذات چې د خاص او عام رحمت سرچينه ده معرفي کوي؛ دويم يې له «ربوبيّت» وروسته راغلی دی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای ربوبیّت هم له لوړېنې، مهربانۍ او رحمته سرچینه نیولې. کېدی شي یو څوک په خپلو کورنیو اړیکو کې مهربان او زړه سواندی وي، خو د کار په چاپېریال کې ستغ، خشن او سخت نیوی وي؛ مثلاً له خپلوانو او خپلې کورنۍ او خپلو ملګرو سره ښه دی، خو نه په اداري اړیکو کې او نه له نورو سره. خو خدای تعالی، هم ذات یې رحمٰن او رحیم دی، هم ربوبیّت یې، په جهان کې د هغه مدیریت موږ یا نورو موجوداتو ته د اړتیا له کبله نه دی، د هغه له خپل رحمته سرچینه نیسي. لکه د والدینو یا معلم په څېر چې د هغوی ښوونه او روزنه، نه د اړتیا له مخې، بلکې د مهربانۍ له کبله ده چې موږ د ناپوهۍ او جهل له تیارو د آګاهۍ او اخلاق او ایمان نور ته ورسوي.

په همدې دریو لنډو آیتونو کې، خدای تعالی یې نه یوازې د خالق په عنوان، [د مشرکینو د اندنې پر خلاف چې، د جهان اداره د چارو مدبرو اجرائي عواملو او پرښتو ته سپارلې ګڼې]، بلکې د داسې پالونکي څښتن په عنوان یې معرفي کوي، چې له جماد او نبات او حیوان نېولی تر آسمانونو او پرښتو او انسانانو، د ټولو جهانونو چلوونکی دی.

په دریم آیة کې د «الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ» دوو نومونو تکرار ځانګړې ظرافت لري؛ په لومړي آیة «بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ» کې دا دوه نومونو له کوم منځګړي او واسطې پرته له اسم ذات یعنې «اللّٰه» دي چې د خدای تعالی عام او خاص رحمانیت د هغه د ذات په عنوان څرګندوي.

په داسې حال کې چې په دریم آیت کې دا دوه نومونه د هغه د نړیوال او هر ځای ییز «ربوبیّت» په اړه مطرح شوی دی، دلته تلویحاً د اشارې په توګه څرګندوي چې د هستۍ پر جهان کې یې لاسبري او ستروالی او پالنه او روزنه، او مدبریت او مدیریت چې پر جهان لري نه د قهر او غلبې له جهته دی بلکې د هاغه له عام او خاص رحمته سرچینه نیسي چې مخلوقات د هغه په سیورې کې خپلې وجودې کمال او ودې ته رسېږي. که مشرکین له تنګ نظرۍ او تعصب او د اندنې له لنډپارۍ سره، د خدای د رحمت په نه درک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو د هغه له رحمانيته منکرېدل، دلته پر ټولو نړيو، او کائناتو د هغه د ځلېدونکي رحمت نور څرګندوي.

## ب - آخرت

۱- د جــزا د ورځــې پــه نســبت د خــدای تعــالی پــر مالکيــت اعتراف کول [مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ].

۲ – د خدای تعالی د خالص عبادت تعهد او ژمنه او د برياليتوب، رستګارۍ او غوړېدا لپاره له هغه په انحصاري او يوازې توګه د مرستې او استعانت غوښتنه [إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ]

د «اللّه» له پېژندنې وروسته د هغه له نړيوال صفت «ربوبيّت» سره چې، د هغه له عام او خاص رحمانيته سرچينه نيسـي، د پنځګرۍ او خلقت په اړه د حکمت، حقانيت او بصيرت سترګې مومي چې په هغه کې کومه بېهودګي او بطلان نشته. اوس په دې پوه شو چې جهان د موخې او هدف لرونکی دی او حق دی، نو هرومرو حساب او کتاب او رسېدنه او نتيجه او پايله پرې اړينه ده او آثار او اغېزې پرې ټيکاو مومي چې نبايد ترې غفلت وشي. په دې صورت کې دنيائي لنډمهالي ژوند پسې بايد، (يومي) پړاو وي چې د انسان نېکې او بدې لاسته راوړنې، خپلو پايلو او محصول ته ورسېږي.

دا پړاو همدا «يَوْمِ الدِّينِ» دی چې مالک يې همدا د دنيا مالک دی. دلته پر جزا او اجر [د دين د معنا] ټينګار دی پر دې بنا «يوم الدين» ويل شوی نه: يوم القيامه، يوم الاخرة، يوم الفصل، يا يوم البعث او ....

د «آل عمران» د پای آيتونه [۱۹۰ تر ۱۹۵] کې د انديالو [اولوالباب] د اند او تفکر پړاوونه د آسمانونو او ځمکې په خلقت کې او د شپې او ورځې اووښتون چې پای يې د خلقت نه باطلوالي او نه بيهوده والی او نه بې نتيجه والي او د آخرت او د راتلونکي درلودلو [يعنې عوارض او عذاب د ظالمانو لپاره او ښه پايله د محسنين لپاره] پېژندنې ته رسېږي، څرګندوي. دا آيتونه کېدی شي په يو ډول د حمد د سورة تفصيل وګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «مالک» له کليمې هم د شتو په نسبت مالکيت او تسلط او برلاسی پوهېدل کېږي او هم پادشاهي او د تصرف ځواک او قدرت [ملک]. د هيواد يا املاکو په اداره کې د تصرف او د قدرت عملي کولو لپاره، «علم» اړين دی. پر دې بنا د الوهيت، ربوبيت، او رحمايت له پېژندنې وروسته [په تېر آية کې].

**په اتفاقي توګه په دوو مشهورو قرائتونو کې، هم «مالک يوم الدين» ويل شوی او هم «ملک يوم الدين».**

اوس نو چې خدای تعالی سربېره پر دنيا، مالک يوم الدين هم دی او آخرت او راتلونکې او زموږ ابدي او تلپاتې سرليک د هغه د تقدير په لاس کې دی، نو د دنيائي مختلفو اربابانو په نسبت د تسليم او تمکين او تعبد پر ځای، بايد منحصراً يوازې هغه ته عبادت وکړو او د مرستې او کومک او مساعدت سترګې د هغه د لطف او کرامت لاس ته ولرو.

دا لوړتيا او سرليک چې (د توحيد او آخرت په نسـبت) د پېژندنې له پړاو وروسته، له خپل خالق سره د بنده لـه لور يو ډول ميثاق او عهد او ژمنه ګڼل کېږي، دوه کليمې او د قرآن کليدي مفهوم يعنې «عبادت» او «استعانت» چې، په مختلفو ســورتونو کې مطرح شــوي او د ډېريو د مطلبونو محور او چورليز توحيد دی، معرفي کوي.

۱ - «مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴿۴﴾»

[چـې] مالـــک [څښتن، فرمـان چلـوونکی ، واکمـن او حـاکم] د ورځـې د جـزا [قضاوت، عدالت او نياو] دی.

ومو ويل چې مالک هم د مالکيت په معنا دی، او هم د مِلک، يعنې پادشاه، د اختيار خاوند او هاغه څوک چې تصميم نيوونکی دی. دا ډېر مهم دی چې سړی پوه شي چې هغه هم «الله»، هم «رحمن» او هم «ربّ» دی، چې په دنيا کې ورته اړ يو، او هم زموږ راتلونکې هغه پورې تړلې ده، هغه د راتلونکې او آخرت مالک او د اختيار خاوند دی. په آخرت کې بل کوم ارباب او د اختيار څښتن شتون نلري، او راتلونکې هم د هغه په لاس کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مَلِک او مالک کارول په ورځينيو چارو کې هر يو ځانګړې او ځپلواکه معنا لري لومړنی يې يوه سياسي اړيکه ده او دويمه يې يوه اقتصادي اړيکه ده. هاغو ځايونو کې چې انسان لـه يو شيز سره د مالکيت اړيکه پيدا کوي په دې ډول ده چې کولی شي لـه هغه اقتصادي ګټه پورته کړي او کوم ځـای کې چې [مـلِک] ويـل کېږي يعنې پـر نـورو بر ځـواک لـري، پر نـورو برلاسی او غښتلی دی او د خپل ځان لپاره د تدبير او سياست حق قايل دی.

خو په هر دواړو موردونو کې په هيڅ ډول کې کوم واقعيت اړين نه دی، بلکې تش يـو اعتباري تـړون دی؛ يعنې دا چـې وايـو پلانـکی وګـړی د پلانکي کـور مالـک دی، يعنې په اوسني وخـت کې تړون پر دې دی چې دا ډول اعتبار وشي؛ او که ويل کېږي چې پلانکی سړی د پلانکۍ مېنې او سيمې مـلِک دی دا هم له يوه اعتباره زيات کوم شيز نه دی او که هر دواړو موردونو کې اعتبار عوض شي سمدلاسه نور شتون نه لري، يعنې شونی دی بله شېبه د هاغه کور مالک او د هاغې مېنې او سيمې مـلِک نور کسان وي او دا اړيکې به له نورو وګړو سره بر قرار شي.

په دا راز موردونو او حالتونو کې چې مِلک [توب] او مالک [توب] د اعتبار په توسه رامنځته کېږي، دا دوه معنا ګانې يو تر بله بشپړ توپير او جلاوالی لري؛ يعنې مِلک د مالک کار نکوي او مالک نشـي کولی د مِلک کارونه سر ته ورسوي؛ د يوه د کار مورد مُلک دی او د بل مِلک.

خو په ځېنو موردونو کې دا اړيکې حقيقي دي. د بېلګې په توګه که څوک ووايي زه د خپلو بدني ځواکونو مالک يم، معنا يې دا ده چې له هغوی څخه په ګټې اخېستلو کې د حق او اختيار خاوند يم، يعنې زما په وجود کې داسې قوه شته چې زه هر وخت وغواړم له هغې استفاده کوم او مثلاً د هغې په توسه خبرې کوم او هر مهال چې نه غواړم استفاده ترې نه کوم. دلته لکه څنګه چې وينئ مَلِک له مالک سره هر دواړه يو مصداق لري؛ يعنې موږ هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو غړو او پښو او لاسونو مالکان يو او هم پر هغوی مِلک او برلاسي، دا له دې لامله دی چې دا يو تکويني چاره ده نه قراردادي او نه تش مجازي.

د پالونکي ښتن په اړه چې د ټول جهان او ټولو کايناتو خالق دی او اراده يې پر ټول عالَم قاهره او برلاسې ده له مَلِک سره د مالک يووالی په ښه توګه برېښنده او په ډاګه دی چې په دې حالت کې د مالک او مملوک تر منځ حقيقي اړيکه برقرار ده. په قيامت کې د مِلک په اړه په قرآن کې راغلي دي:

«...لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ» [غافر١٦(٤٠:١٦)].

«...[له هغوی پوښتنه کېږي] نن د چا ټولواکي ده؟ [ددې پوښتنې رښتينی ځواب له دې پرته نه دی چې، پر ټوله هستۍ] د يوازيني برلاسي الله!»

سر بېره پر دې په بل آيت کې راغلي دي: «قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ ...» [آل عمران٢٦(٣:٢٦)] ووايه؛ ای خدايه د مُلک مالکه. په دې آية کې مُلک او په مديريت کې د اختيار خاوندتوب، د يوې مملوکې چارې په عنوان فرض شوی دی. د «لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ» مفاد هم همدا دی او په اصطلاح «لام» د مِلک افاده کوي. د آية معنا داده چې مالک څوک دی؟ ځواب دادی چې خدای تعالی مالک دی. نو معلومېږي چې مُلک او مِلک يو تر بله دومره لېرې نه دي او لکه څنګه چې ويل کېږي دوه بېلې اوبڅې نه دي.

آيا خدای تعالی يوازې د قيامت د ورځې مالک او مَلِک دی او په دنيا کې نه دی؟ نه، بلکې خدای تعالی هم د دنيا او هم د آخرت حقيقي مالک او مَلِک دی. توپير يې دا دی چې بشر چون په دنيا کې حقيقتويني سترګې نلري، اعتباري او مجازي مالکان او مِلکان جوړوي؛ خپل ځان او نور پر شيزونو مالک او د هغوی مَلِک ګڼي او وايي زه ددې کور مالک يم خو هغه مهال چې د جهان حقيقتونه ورته مکشوف شي او پر جهان واقعيت وينی ليد واچوي هغه مهال به ووينې چې ټول مِلکان او مُلکونه جعلي او په خپل لاس جوړ د ټوکو ګوډاګي دي او د هستۍ حقيقي مالک او مَلِک هغه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«...فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ» [ق۲۲(۲۲:۵۰)]

«...دادی ستا له سترګو مو [د غفلت] پرده اوچته کړې ده او نن ورځ ستا نظر [ښه] تېز شوی دی.»

د «دین» د کلمې اصلي معنا جزا، اجر او اجرت دی، موږ چې کوم عمل په دنیا کې کړی نتیجه او پایله یې په آخرت کې اخلو؛ لکه څنګه چې په ښوونځي کې درس وایو، نتیجه او پایله یې زموږ په وجود کې تحقق مومي او د زده کړې د هرې دورې په پای کې بری لیک، پایلیک او شهادتنامه اخلو او په کار کولو او عایداتو لاسته راوړلو لاس پورې کوو.

په اسلام کې یو داسې اصل شتون لري چې د هغه د ټولو اجزاؤ او برخو لپاره بنسټ دی او هغه عبارت له توحید څخه دی، یعنې که ټول اسلامي جوړښتونه تجزیه او تحلیل کړو د ټولو ستنېدنه بېرته توحید ته ده. که نبوت او آخرت چې د اسلام له دوو نورو بنسټیزو جوړښتونو څخه دي، په بله بڼه کې توحید دی. او که اسلامي اخلاقي ښوونې او یا اسلامي ټولنیزو احکامو ته پاملرنه وکړو او تر غور او څېر لاندې یې ونیسو د توحید په بڼه کې خپل ځان څرګندوي. یعنې د اسلام هره برخه او جزء د توحید پر بنسټ بناء شوی دی.

۲ - «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿۵﴾»

[پالونکی څښتنه] یوازې ستا عبادت [نمانځنه] کوو او یوازې له تا مرسته غواړو.

«إِيَّاكَ» د مفعول ضمير دی د ورپسې فعل لپاره چې «نَعْبُدُ» دی او «إِيَّاكَ» بیا هم مفعول دی د ورپسې فعل لپاره چې «نَسْتَعِينُ» دی او په هر دواړو ځایونو کې مفعول پر فعل مخکې شوی دی، د ځانګړیتوب او انحصار لپاره، یعنې بندګي باید یوازې د خدای لپاره وي او مرسته غوښتل هم باید یوازې له خدایه وي نه غیر له خدایه. او بله دا چې «نَعْبُدُ» او «نَسْتَعِينُ» متکلّم مع الغیر دی، څکه نمونځ کوونکی نباید یوازې د خپل ځان احتیاج مطرح کړي، بلکې ټول بندګان د خدای مرستې ته اړ وګڼي همدا لامل دی چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستي آيت کې «اِهْدِنَا» ذکر شوی دی يعنې دين او عبادت اجتماعي او ټولنيز دی نه انفرادي.

د حمد په سورة کې چې تر دې ځايه وڅېړل شو د توحيد نظري برخه وه او له دې ځای [إِيَّاكَ نَعْبُدُ] څخه وروسته د عملي توحيد بيان دی. چې عملي توحيد د نظري توحيد د جوتولو لپاره اړين او لازمي دی، او له عملي توحيد پرته نظري توحيد بسنه نه کوي. له همدې ځايه انسان ددې کوچني سورة په ېيساري ستروالي پوهېږي او ددې کريم کتاب له اعجازه ځرګنده بېلګه په دې کوچني سورة کې مومي.

نو کومې جملې او کليمې چې د سورة له پيله تر «مَالِكِ يَـوْمِ الدِّينِ» پورې تېر شول، د خدای تعالی د پېژندنې په اړه يې يو لړ مسئلې مطرح کړې: هغه «اللّه» دی، هغه «رحمن» دی، هغه «رحيم» دی، هغه «رب العالمين» دی، هغه «مالک يوم الدين»؛ سربېره پر دې هغه داسې يو ذات دی چې مطلق «محمود» دی، ټول حمدونه او منني او ستاينې هغه پورې اړه لري.

د حمد له سورته برېښي چې ټول الهيات په دې څو کليمو کې ځای شوي دي؛ عمده ترينې الهي مسئلې په دې څو کليمو کې طرح شوي دي. د قرآن لـه لورې ددې مسئلو طرح کول، ددې حقيقتونو ټل ته د ژور غور بلنه ده؛ قرآن نـه غواړي مورِ يوازې د ژبې په څوکه دا کليمې ذکر کړو بلکې غواړي دا حقيقتونـه درک کړو. هغوی چې په خپل نمانځه کې خدای تعالی له دې صفتونو سره يادوي په حقيقت کې په دې اسمونو او صفتونو د خدای پېژندنې د ادعا په مقام کې دي:

ددې پېژندنه چې هغه الله دی يعني بشپړ او کامل او د نمانځنې وړ ذات چې د عالَم ټول موجودات فطرتاً هغه ته متوجه دي. په بل عبارت پېژندنه او اقرار او اعتراف داسې يو موجود ته چې مطلق کامل او بشپړ دی؛ نقص، کمی او نشت او نياز او اړتيا په هغه کې هيڅ لار نلري او له همدې لامله هر څه له هغه او هغه ته متوجه او د هغه لور ته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې پېژندنه چې هغه رحمٰن دی، یعنې دا درک کړي چې ټولټال د کایناتو او د ټول عـالم وجود د حـق د ذات د رحمانیت مظهر او ښکارنـدوی دی؛ هر څه چې له هغه صادرېږي له خیر او رحمت پرته نه دی؛ هیڅ موجود له دې جهته چې موجود دی، له دې جهته چې د حق د ذات ته منتسب دی، یعنې له دې جهته چې عیني او واقعي دی له خیر او رحمت پرته نه دی؛ شرّیت او نقمت او سختي او ځور او آزار، د ځیزونو په عدمي او نسبي او اضافي جنبو کې دي نه د هغوی په وجودي او فِی نَفْسِهِ جنبو کې.

ددې پېژندنه چې هغه رحیم دی. کوم بنده چې خدای تعالی له دې صفت سره بولي ادعا کوي چې د معرفت او پېژندنې دې پړاو ته رسېدلي چې تشخیصوي؛ نه یوازې د خلق کېدو نظام او د ځیزونو صدور د حق د ذات مظهر او ښکارندوی دی بلکې د حق پر لور د ځیزونو د بېرته ستنېدو نظام هم د خیر او رحمت نظام دی؛ یعنې موجودات له رحمت څخه راغلي او رحمت ته بېرته ستنېږي. دا څرګنده ده چې د رحیمیت رحمت، یعنې هاغه رحمت چې موجودات د حق پر لور د ستنېدو پر مهال ترې برخمن کېږي، په لومړۍ درجه کې د ایمان اهل ترې برخمن کېږي، یعنې هغوی چې هر څه ورته رسېږي ظاهراً او باطناً [څرګند او ناڅرګند] رحمت دی، داسې یو رحمت چې د رحمت په بڼه دی نه د نقمت په بڼه، مطلق رحمت دی نه نسبي.

دا چې ویل کېږي د رحمٰن او رحیم توپیر دادی چې رحمٰن دنیا ته اړوند دی او رحیم آخرت پورې اړه لري؛ یا ویل کېږي چې رحمٰن د ټولو موجوداتو او خلکو په حال کې شاملېږي خو رحیم یوازې د مؤمنینو په حال کې شاملېږي، مقصد ترې همدا دی چې مخکې ورته نغوته وشوه.

دنیا او آخرت له دې نظره چې دوه جهانه دي یو تر بله فرق نلري چې یو یې د رحمت اعتبار د «رحمٰن» له مادي یا تبصرې واخلي او بل یې د «رحیم» له مادي یا تبصـرې، یا مثلاً د کافر او مؤمن مشترک رحمتونه له یوې مادې یا تبصـرې برابر شوې وي او د ایمان والو خاص رحمتونه له کومې بلې مادې یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصرې. هر دواړه رحمتونه د هغه له ذاته سرچینه نیسي، یعنې دا جهان هم د الله د رحمت پر بناء دی او د الله له لور د ټولو موجوداتو پنځونه خیر دی. خدای تعالی رحمٰن دی یعنې د جهان راتګ د هغه له لورې د رحمة مظهر دی؛ او خدای تعالی رحیم دی یعنې د هغه لور ته د جهان بېرته ستنېدل هم د هغه د رحمت ښکارندوی دی. نو کله چې وایو هغه «مَالِكِ يَـوْمِ الدِّينِ» دی. دلته بل معرفت او پېژندنه مطرح ده. بنده، د خلقت د پایلې د شناخت او پېژندنې مدعي دی، هغه پوهېږي چې د جزا او پایلې یوه ورځ شته او په دې ورځ به څرګنده او په ډاګه شي چې هیڅ وسیله او اسباب اصالت نلري او مَلِک او مالک یې د نورو له دخالت پرته یوازې او یوازې یو الله تعالی دی.

د حمد د سورة په لومړیو څلورو آیتونو کې د خدای تعالی اسماء او صفتونو ذکر شوي دي د توحید او معاد د اثبات لپاره او دا چې هغه د جزاء د ورځې په تشکیلولو کې قادر دی، او د جزا د ورځې مالک او یوازینی برلاسی دی. له دې آیتونو وروسته، د بندګانو دندې، نمانځنه او د مرستې غوښتنه د هغوی د هدایت او سرلیک د څرګندولو لپاره ذکر شوي دي.

تر دې ځایه دا ټول چې وویل شو د نظري توحید په اوېجه او پراو کې شامل دي، یعنې داسې یو توحید چې د شناخت او پېژندنې په برید کې دي؛ او دا شناخت او پېژندنې فوق العاده ضروري او اړینې دي او هیڅ کله باید و نه ویل شي چې دا پړاو یو ذهني پړاو دی او اړتیا ورته نشته؛ نه، بلکې په اسلام کې پیژندنه او لوت [تشخیص] پخپله اصالت لري او تر څو چې دا پړاو یې نه وي تېر کړی انسان به په عمل کې مخکې لاړ نه شي. خو آیا دا پړاو کافي دی؟ یعنې که انسان یوازې وپیژني او پوه شي مؤحد ګڼل کېږي؟ نـه، بلکې دا پېژندنه او پوهېدنه د کېدلو لپاره پیلیزه ده، یعنې بـاید وپیژني او پوه شي تر څو د کېدلو وړ شي، او خپله پوهه په عمل کې پلي کړي [عملي توحید].

نو هغه مهال چې وایو «إِيَّاكَ نَعْبُدُ ...»، عملي توحید مو پیل کړی دی او غواړو د یو ګوني کېدلو او مؤحد کېدلو اظهار وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې موږ پوه شوي یو او شناخت مو موندلی چې زموږ هر څه او همدا راز زموږ راتلونکې هم د هغه په لاس کې دي، نو یوازې د هغه «عبادت» باید وکړل شي. «عبادت» یې د قرآن په ترجمو او ژباړو کې نمانځنه او پرستش معنا کړې دی، خو پرستش او نمانځنه د «عبادت» لپاره جامع او بشپړه تولیزه معنا نه ده او له بده مرغه معادل یې په پښتو او فارسي کې هم نلرو. «عبادت» د انسان د تسلیم او تمکین د حالت بیانوونکی او څرګندوونکی دی.

د اروابناد شریعتي په وینا؛ عبادت د وجود د جادې او سړک هموارول دي. «عَبْد الطّریق» یعنې لاره یې همواره او اسفالټ کړه. «طَریقٌ مُعَبَّد» عبد شوې لار او جاده، یعنې د موټرچلوونکي لپاره همواره ده، اسفالټ شوې ده او ډبرې او لوټې، ناهمواری او لوړې ژورې نه لري. په عربستان کې د لارو جوړولو ماشین ته هم «عابد» وایي.

زموږ وجود باید د خدای تعالی لپاره صاف او هموار وي او د هغه د فرمانونو پر وړاندې تواضع کوونکې، خاضع، خاشع او خاکسار اوسو. که هغه فرمايي؛ انفاق وکړه، عفو وکړه، جهاد وکړه، او یا مهربان اوسه، زموږ وجود باید ددې فرمانونو جذبوونکی او د خدای تعالی د امرونو هرکلی کوونکې اوسي. نو توحید په عبد کېدلو او عبادت کې په دې معنا دی چې د بل هیڅ موجود او بل هیڅ فرمان پر وړاندې دا حالت ونلري، بلکې د غیر له خدای په نسبت د سرکښی او تمرد حالت ولري. نو په ټوله کې انسان باید دوه متضاد حالتونه ولري: محض خدای تعالی ته تسلیم، او محض غیر له خدایه سرکښي.

دا د«إِيَّاكَ نَعْبُدُ ...»، معنا ده، خدایا یوازې ستا نمانځنه او عبادت کوو او ستا په غیر د هیچا نمانځنه او عبادت نه کوو.

باید پاملرنه ولرو د هغوی اطاعت چې خدای تعالی د هغوی د اطاعت امر کړی دی لکه مور او پلار، هغوی چې د حق لارې ته بلنه کوي، او د ټولنې هاغه رهبران او مشران چې د خلکو په توسه غوره شوي، او عملونه یې د خدای تعالی له اوامرو سره برابر دي. چون خدای تعالی ویلي دي اطاعت یې کوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


هره لړۍ چې تر دې ځايه ورسېږي د خدای عبادت دی؛ خو هر څه چې د خدای تعالی تر څنګ وګومارل شي يعني د خدای په عرض کې واقع شي نه په طول کې شرک دی.

## په قرآن مجيد کې د شرک مصاديق:

په قرآن کريم کې د شرک لپاره ډول، ډول مصاديق راغلي دي چې موږ له هغوی څخه ځينو ته نغوته کوو چې په ترڅ کې يې د قرآن د عملي توحيد معنا هم روښانه کېږي:

۱ - «أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ...». [فرقان۴۳(۲۵:۴۳)]. «آيا هاغه کس دې ليدلی دی چې د خپل نفس هوا يې خپل معبود ګرځولی دی...».

په دې آية کې شهوت پالی او د خپل نفس د غوښتنو منونکی انسان مشرک ګڼل شوی دی. نو، له کومې چې موږ وايو «إِيَّاكَ نَعْبُدُ...»، او غير له خدايه معبوديت نفي کوو، موږ ددې مطلب مدعيان شوي يو چې خدايا موږ ستا په فرمان يو، نه د خپلو ليوالتياو، مېلونو او هواګانو او هوسونو او شهوتونو په فرمان.

۲ - «اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ...» [توبه۳۱(۹:۳۱)]. «هغوی خپل ديني عالمان او راهبان د الله پر ځای [لکه] د [داسې] اربابانو په توګه [چې د مطلقه ولايت لرونکي دي] ونيول...».

په داسې حال کې چې يهوديان او مسيحيان يې غندلي وايي هغوی پرته له دې چې د خدای له امره کوم لاسوند ولري خپل حِبران [حِبر د يهودو عالم ته وايي] او خپل راهبان يې خپل خدايان ګرځولي او نمانځنه يې کوي.

موږ پوهيږو يهوديانو او مسيحيانو خپل عالمان او مقدسين په داسې بڼه چې بت پالو د خپلو بُتانو عبادت کاوه، عبادت نه کوه، يعنې هغوی ته يې سجده نه کوله بلکې همدومره وو چې د هغوی په وړاندې يې تعبد او بنده ګي کوله، يعنې پرته له دې چې د خدای تعالی له لورې اجازه ولري هغوی ته مطيع او تسليم ول او په حقيقت کې د هغوی د نفسونو هواګانو او مېلونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطیع ول؛ هغوی به هرڅه چې د خپلو مېلونو او هواګانو پر بنسټ ویل دوی به منل. پرته له دې چې ویناوې یې له الهي فرمانونو سره سمې وي.

نو له کومې چې موږ وایو «إِيَّاكَ نَعْبُدُ...»، یعنې خدایه موږ د هیڅ ډلې عبادت او نمانځنه، د روحاني په نامه او د قدیس په نامه، د عالِم او پیر او مرشد او په نورو نومونو نه کوو، او له هغوی په پټو سترګو اطاعت نه کوو؛ د هر چا د اطاعت فرمان چې تا ورکړی اطاعت یې کوو ستا له فرمان پرته په پټو سترګو له هیچا اطاعت نکوو.

که له رسول الله اطاعت کوو له دې لامله دی چې ستا د څرګند فرمان پر بنسټ تا یې اطاعت فرض ګرځولی دی. ستا په نامه حق ته د بلونکو اطاعت له دې لامله کوو چې ویناوې یې ستا له احکامو سره سمې وي او که د هر چا وینا او عمل ستا له فرمان سره په ټکر کې وي موږ د هیچا داسې بلنه نه منو.

۳ – «قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ...» [آل عمران۶۴(۳:۶۴)].

«ووایه: ای کتابوالو [د لجاجت، بېلتون او جفا له دریځه تېر شئ] زموږ او ستاسو تر منځ مشترک حقیقت ته [د تفاهم او نژدېوالي] لپاره راپورته شئ او [په دې وسیله چې] له الله پرته د چا بنده ګي ونکړو او هیڅ څیز له هغه سره شریک نکړو او ځینې له موږ [آدمیانو] ځینې نور د خدای پر ځای ارباب [=د اختیار خاوند] و نه نیسو...».

دا هماغه یو آیت دی چې رسول اللّه په پنځم یا شپږم لېږدیز کال کې د متحدالمال [لیکوېش] په بڼه د نړۍ د هیوادونو واکمنانو ته ولېږه: ووایه ای کتابوالو، ای هاغو کسانو چې خپل ځانونه یو آسماني کتاب ته اړوند ګڼئ او اعتبار ترې لاسته راوړئ! ټول راشئ د یوه داسې حقیقت پر لور چې موږ ټولو ته یو برابر دی، نه موږ کولی شو ووایو چې موږ ته مخصوص دی او نه تاسو کولی شئ ادعا وکړئ چې خاص ستاسو دی، او هغه اللّه دی. راشئ هیڅ څیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه سره شریک و نه گومارو. تر دې چې فرمايي: «... وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ...» ځينې له موږ ځينې نور د «رب» او د اختيار د خاوند په توگه و نه نيسو، يوازې خداى تعالى «رب» او معبود او مطاع وگڼو او بس.

دا هم د قرآن د عملي توحيد د يو بل مثال ځرگندوى دى چې فرمايي هيڅ يو انسان بل انسان خپل رب و نه گوماري او هم دا چې کوم انسان بل انسان خپل مربوب جوړ نکړي. نو د «إِيَّاكَ نَعْبُدُ...»، معنا داده: خدايه يوازې تا «رب» او مطاع نيسو او هيڅ ډله ايز معبود نلرو او هيڅ يو انسان او انساني فرمان ستا او ستا د فرمان پر وړاندې مطاع نه گومارو.

۴. «وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ» [شعراء۲۲(۲۶:۲۲)].

«او دا [څنگه] يو نعمت [او لورونه] ده چې منت يې پر ما ږدې؟ [زه خو په کوچنيتوب کې په ناغوښتې توگه ستا ماڼۍ ته وکښل شوم] تا خو بني اسرائيل مريان کړي دي».

موسى بن عمران هغه مهال چې له فرعون سره مخامخ شو او هغه ته يې بلنه ورکړه فرعون له غوسې سره وويل: ته هماغه کس يې چې زموږ په کور کې وې او زموږ تر لاس لاندې ستر شوې او هغه مهم او ناوړه کار دې وکړ [د موسى(ع) په توسه د قبطي وژلو ته اشاره ده]. موسى ځواب ورکړ: اوس دې دا منّت پر ما کېښود حال دا چې ددې په مقابل کې بني اسرائيل دې خپل بنده گان جوړ کړي دي؟ يعني ته وايې ستا ددې عمل په مقابل کې چې بني اسرائيل دې بنده گان کړي دي هيڅ و نه وايم؟

پاملرنه وکړئ چې حضرت موسى، فرعون گري؛ يعني همدا د فرعون استبداد «تعبيد» نوملی دی. بني اسرائيلو فرعون ته سجده نکوله بلکې فرعون هغوى ذليل کول او په اجباري اطاعت او اجباري کار او استحصال يې مجبور کړي ول او له هغوى يې د اختيار او آزادۍ هر ډول حق اخيستی وو. هغوى عملاً د فرعون په مقابل کې رام او مطيع ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـو کلـه چـې «إِيَّـاكَ نَعْبُـدُ...» وایـو، یعنـې ای خدایـه تعبیـدونو، تـذلیلونو او اجبـاري اطـاعتونو او استحصـال او د اختیـار او آزادۍ د حق، له لاسه ورکولو ته تن نه ورکوو.

دا یو لړ نمونې دي چې په قرآن کې راغلي دي او کولی شي د عملي توحید په معنا وي. عملي توحید هماغه دی چې د اسلامي عالمانو په اصطلاح کې ورته «توحید په عبادت کې» ویل کېږي او مقصد ترې توحید په خارجي عینیت کې دی، یعنې د انسان د وجود واقعیت هم مؤحد او یو ګونی شوی وي.

لنډه دا چې په اسلام کې کافي نه دی چې مسلمان یوازې د فکر او اند په پړاو کې مؤحد وي او خدای تعالی په ذات او صفاتو او افعالو کې په یوګونیتوت او یوازېتوب وپېژني او پوه شي او درک کړي، چې که هغه ته وړاندیز وشي چې د خدای پېژندنې په اړه بحث وکړي کولی شي د خدای په اړه په میاشتو، میاشتو خبرې وکړي. داسې وګړی نیمایي له توحیده لري، او نیم بل یې دادی چې په عمل کې توحید پالی وي بلکې مؤحد وي. هغه مهال چې خدای یې له ټولو صفتونو سره وپېژاند او په اطاعت او تسلیم کې هم یوګونی وو، له دې وروسته کولی شو ووایو مؤحد دی.

په زړه پورې نکته چې دلته شتون لري [چې د عملي توحید پړاو او د انسان د «کېدلو» پړاو دی] داده چې د نَعْبُدُ په کلیمه کې د جمع ضمیر راوړل شوی دی او په مفرده بڼه یعنې أُعْبُدُ نه دی ویل شوی. یعنې دا ویل شوي نه دي: «زه، یوازې ستا عبادت کوم» بلکې ویل شوي «موږ، یوازې ستا عبادت کوو».

هغه نکته چې په دې مقام کې د انسان د جوړېدو مقام دی دا ده چې انسان لکه څنګه چې د خدای د پېژندنې په رڼا او هغه ته په پاملرنه کې جوړېږي له هغه د غفلت په صورت کې او په بې خبرۍ کې نه جوړېږي او تش له نظر او اند سره نه جوړېږي، همدا راز انسان د ټولنیز عمل په ترڅ کې او له توحیدي ټولنې سره مل او همغږی جوړېږي نه د توحید د اهل له کاروانه بېل او جلا. انسان یو فکري، الهي، عملي، اجتماعي موجود دی. انسان له اند او فکر پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقيقي انسان نه دی. له خدايه پرې، او له خدايه غافل انسان، انسان نه دی. الهي انديال او فکرمند انسان هم چې له عمله پرې شوی او جلا وي حقيقي انسان نه دی، کمښت او نيمګړتيا لري، همدا راز انديال خدای پېژاندی عملي انسان چې له توحيدي ټولنې پرې شوی او جلا وي هم يو ناقص او نيمګړی انسان دی. نو په حقيقت کې د «إِيَّاكَ نَعْبُدُ...»، معنا دا ده:

خدايه موږ د توحيدي ټولنې خلک په يو همغږي حرکت کې، ټول يو ځای يو تر بله ستا پر لور ستا فرمان ته غوږ په آواز روان يو.

«... وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ.» يوازې له تا مرسته غواړو؛ غير له تا له هيچا مرسته او استعانت نه غواړو.

چون خدای تعالی د يوم الدين مالک دی، موږ خپلې اړتياوې يوازې له هغه غواړو. خپل ځان ته تلقين کوو چې يوازې د خپل خالق او پنځګر پر وړانـــدې تسليم او تابع يو او نه د بل هيچا. دا د عبادت معنا ده؛ په ژوند کې يوازې له تا مرسته اخلو او د بل هيچا په مخ کې سر نه ټيټوو.

استعانت هم يوازې له «اللّه» دی. مقصد يې د انسانانو تر منځ معمول او متعارف کومک او مرسته اخيستل نه دي، ځکه چې د ټولنيز ژوند متې او نظام په ټولنه کې يو له بل سره د مرستې او تعاون پر بنسټ ټېکاو دی. په قرآن کې الله تعالی فرمايي: «... وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ...» [مائده۲(۵:۲)] په نېکو کارونو کې له يو بل سره مرسته وکړئ.

د «تعاون» کليمه د «عون» له مادې د مرستې او کومک په معنا ده. که استعانت له غيره په هيڅ بريد کې جايز نه وای پالونکي څښتن د تعاون سپارښتنه نه کوله بلکې دا رسوي چې تاسو يو بل ته اړ ياست نو له دې لامله يو له بله بايد مرسته او کومک وکړئ. نو مطلب څه دی؟

هغه څه چې دا آية شريفه پرې موږ پوهوي دا دی چې: هاغه نهايي ويسا او اعتماد او د انسان د زړه تکيه ځای يعنې هاغه څه چې په واقعيت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په نفس الامر کې انســان پر هغه ډاډه دی او تکيه پرې لري بايد خدای تعالی وي او هاغه چې له هغه په دنيا کې مرســته او کومک غواړي د وســيلې په عنوان وګڼي، او پوه شي چې پخپله انسان، د هغه وجودي ځواکونه، د هغه د متې زور او قوت، د هغه فکري او مغزي ځواک، ټولټال هاغه وســيلې دي چې خدای تعالی پنځولي او دده په واک او اختيار کې يې ورکړي دي او سر رښته يې دده په لاس کې ده. نو له دې لامله انسان په دنيا کې چې څومره په وسيلو اعتماد کوي خو وروسته ويني چې د انتظار پر خلاف يې هاغه کومکي وسـيله چې بايد يو څه وکړي سر ته يې نه وي رسـولی. کله داسـې هم کېږي چې پر خپلو ځواکونو اعتماد کوئ خو وينئ چې هغوی هم تخلف کوي. يوازينی قدرت چې که انســان پر هغه تکيه وکړي او خپل پروګرام له هغه سره تنظيم کړي چې هيڅ تشويش به ونلري هغه د خدای تعالی ذات دی.

په ځانګړې توګه په هاغو چارو کې چې خدای تعالی ته ځانګړې او مختص دي، هيڅ واسطه او کوم شفيع وجود نلري، يوازې هغه دی چې سميع او بصير، حیّ او قيّوم، حاضر او ناظر او مراقب او شاهد دی، او په هاغو چارو پورې اړوند چې خدای تعالی ته اړيکه لري، يوازې له هغه بايد مرسته او استعانت و غوښتل شي او بس.

## ج ـ نبوت

۱ ـ سمې او نېغې لارې ته د هدايت غوښتنه [اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ].

۲ ـ له نعمته د برخمنو په لار کې د حرکت هيله [صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ].

۳ ـ تر غضب لاندې شوو او بېلارو، لاروركو له لارې بېزاي او ځان ساتنه [غَيْرِالْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ].

په پورتنيو سرليکونو کې څو بنسټيز او بنيادي، اصلونه او کليدي کليمې چې د قرآن د ډېرو عمومي مبحثونو پايه ده، د لړليک په توګه بيان شوي دي؛ هدايت، صراط المستقيم، نعمت، غضب او ضلالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له خدای تعالی سره د ژمني د تړون د چمتو والي لاسته راوړلو لپاره لـه هغه په خالص عبادت او انحصاري استعانت کې [إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ]، دادی متحول، اووښتونکې او منقلب بنده، لـه خدايه غواړي ددې هيلې او ارزو د تحقق لار ورته وښايي، له هغه «هدايت» غواړي.

۱ - «اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ»﴿٦﴾

موږ ته سمه (او مستقيمه) [لويه] لار [= واټ]، راوښايه. [= موږ په سمه لار بوځه].

نمونځ کوونکې سره له دې چې هدايت يې موندلی دی بيا هم بايد خپل ځان هدايت ته پرله پسې اړ وګڼي او له خدايه تل هدايت وغواړي، حتا رسول اکرم(ص) هم خپل ځان الهي هدايت ته اړ ګڼه او دا غوښتنه به يې کوله، ځکه چې بنده الهي هدايت او مرستې ته اړتيا لري هغه هم له پيله تر پايلې، او «نا» متکلّم مع الغير دی، يعنې انسان بايد د ټولنې په اړه اندنه ولري او په ټوليزه توګه د ټولنې ټولو غړو ته د هدايت غوښتونکی اوسي.

هدايت لار«ښوونه» نه ده، پر لار «بوتلل» دي [راهبري]، «ايصال بالمقصود» دی. که يو څوک له تاسو آدرس او پته وغواړي، که هغه ته د لارې نښې ورکړئ، لارښوونه مو ورته کړې ده، خو که ترې مخکې شئ او هغه له ځان سره مقصد ته ورسوئ، هدايت مو ورته کړی دی. په هدايت کېدلو کې يوازې د لارې پوهېدل بسنه نه کوي، تبعيت له هادي څخه او ورسره په سمه لار کې سم تګ هم اړين دی، له همدې لامله قرآن يوازې د متقينو، مؤمنينو، محسنينو او مسلمينو [حق ته تسليم شوو] لپاره هدايت دی، له دې صفتونو سره شونې ده د «کتاب او سنت» هادي پسې د مقصد پر لور لاړ شې او يوازې ديني پوهه له دې صفتونو پرته څوک مقصد ته نه رسوي.

د بقره ســـورة په پيل کې چې وايي: «ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ»[بقره۱(۲:۱)]، نه وايي «هدی للعلما، للفقهاء»! که د هدايـت معنا لارښـوونه وای، دا کتاب بايد د هر هاغه چا لپاره چې هغه وپيژني او ولولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظ او مفسر ـ یې وي هدایت وای، خو وایي د متقینو لپاره هدایت دی. او تقوا هم د نفس د کنټرول اراده او د ژوندانه د لارلیک په خطراتو کې د بریک او تمېدنې وړتیا ده؛ د زړه د غوښـــتونو او هوی او هوس او اخلاقي رذالتونو خطر چې د حق د مسیر او لارلیک، لارشوکې دي، د تقوا پر ضد عمل دی.

نو له «هدایت» څخه مقصد، لکه څنګه چې د قرآن په ژباړو کې لیدل کېږي، «لارښوونه» [راهنمایي] نه ده، یعنې ادرس، پته او نښانه ورکول نه دي، بلکې پر لار بوول او رهبري کول دي، چې د «تبعیت» مفهوم او عملي پلیوني [نه تش لفظي] پکې نغښتې ده. تر اسلام مخکې عربانو هاغه څوک د «هادي» په نامه پېژنده چې «د لارې د بلد» په عنوان د قافلې مخکې حرکت وکړي او کاروان له ښوره ناکو ځمکو او بې نښو بېدیاو او بیابانونو تېر کړي. پر دې ترتیب په دعا کې، د لارې په وهلو کې پر ذهني آګاهۍ او مطلع کېدلو سربېره، د لاسنیوي او مرستې او رهبرۍ او امامت غوښتنه کېږي.

د هدایت د مفهوم د پوهېدو لپاره د لغت اصل ته مراجعه کوو لکه څنګه چې مو وویل؛ له اسلام مخکې، «هادي» هغه چا ته ویل کېده چې، له هاغې پېژندنې سره چې د ستورو له موقعیت او جغرافیائي لورو څخه یې درلود، کاروان یې له سوځوونکو ساراو او ښوره ناکو دښتو څخه مقصد ته رساوه. په هغې زمانه کې د عربستان د سختې تودوخې له لامله، مسافرو د شپې د ستورو په رڼا کې سفر کوه او کارپوه او هادي [«د لارې بلد»] ته یې اړتیا درلوده.

پیغمبران هم هاغه هادیان ول چې د معنویاتو د آسمان له لارو سره اشنا ول او خلک یې د نېمکرغۍ او نجات پر لور د ژوندانه له سرابونو څخه مقصد ته رهبري کول. خدای تعالی دې مونږ ته توفیق راکړي چې د هغه فرمانونو ته تسلیم اوسو، نه دا چې یوازې پوه شو. مونږ ټول لږودېر په یو لړ څیزونو پوهېږو، پوهه او زده کړه په یوازې توګه هدایت نه دی، تر ټولو مهم د حق په لارلیک او مسیر کې مقصد ته رسېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څوک کېدی شي بهترين قرآن پېژندونکی وي، خو لا تر اوسه هدايت شوی نه وي. وايي چې ګوډ تيمور به ويل چې حافظ خو کوم هنر نه دی کړی! زما خو قرآن له چېپې خوا هم حفظ دی!!

له دې حال سره د جهان ستر خوند او په زړه پورې نندارې يې، د مخالفينو د ورمېږ د وهلو پر مهال د وينو دارې ګڼلې!! په لښکر کې يې تل له ځان سره ګرځنده محراب درلود چې شلو کسانو به هغه لېږدوه او هر ښار ته به چې په زور ننوت، لومړی به يې د ښار له علماو او پوهانو سره بحث او مباحثه کوله! خو هنر او نامتو والی يې د خلکو په عام قتل کې وو. آيا کولی شو دا راز حافظ هدايت موندی وګڼو؟

په دې سورة کې د «ما» ځای نشته، ټول يې «موږ» دی. زموږ سرليک يو تر بله اړيکه لري. ټول په اصطلاح په يوه کښتۍ کې سپاره يو. د حمد په سورة کې دعا کوو: «اِهْدِنَا»، موږ ته هدايت وکړه، نه يوازې ماته بلکې موږ ټولو ته.

خدايه زموږ لاس ونيسه او موږ ته توفيق راکړه چې وکولی شو ستا له هدايت او لاس نيوي سره صراط المستقيم او سمې لارې ته راشو.

انسان د متضاد او مختلف طبيعت لرونکی دی او خپله لار بايد له عِلوي او سِفلي طبيعتونو له منځه انتخاب او غــوره کړي. د نورو حيوانــانو پر غاړه د انتخاب مسئوليت نه دی ايښوول شوی بلکې آس، پسه، پيشو، سپی او .... هر يو لـــه خپلو غريزو سره پنځول شوي دي چې دې غريزو د هغوی لار ټاکلې ده او له همدې لامله وينو چې هر يو لـــه هغوی، د جهان په ټول تاريخ کې، خپل ځان ته د ځانګړي خلق او خوی څښــتنان دي او هر يو، يو ډول کړنې او چلن لري؛ د شاتو مچۍ يا مېږيان د تاريخ په اوږدو کې د کور او ځالې په جوړولو کې او د غذا په تهيه کولو کې په يو ځېر دي او د هغوی په کار کې کوم تغيير او تحول نه ليدل کېږي.

خــو د انسـان پـر وړانـدې سـلګونه لارې ايښــوول شــوي چــې کــولی شي هره يوه له هغوی غوره او انتخاب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د والليل په سورة کې فرمايي: «إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّى» [ليل۴(۹۲:۴)] چې په تحقيق ستاسو [کړنې او] هلې ځلې بېلابېلې [خپرې ورې او ډول ډول] دي.

ستاسو بنيآدمانو کوښښونه مختلف او متفرق دي. او البته دا مطلب د انسانانو کمال څرګندوي نه د هغوی ضعف.

له قرآن مجيده په څرګنده توګه بريښي چې: هغه لارليک چې له انسانه د خدای پر لور کښل شوی او هغه، د انسان د کمال مشخصه او څرګنده لار ده؛ لنډه دا چې په مقابل کې يې زرګونه لارې اېښوول شوي چې يوازې يوه له هغوی مستقيمه او سمه لار يعني همدا ستر واټ دی چې د خدای پر لور ځي او نهايت يې خدای ته رسېږي. خو انسان د هرې لارې په انتخاب کې مختار دی او که دا خدای پر لور لار غوره کړي سمه ده او که نه نورې ټولې لارې ناسمې او غلطې دي.

او دا د حضرت رسول اکرم د يو حديث مفهوم څرګندوی چې يوه ورځ هاغه حضرت په يو ځای کې ناست وو او يوه ډله خلک ترې چاپېره ناست ول؛ پيغمبر(ص) پر ځمکه ډېرې کرښې وکارلې. يوه له هغو کرښو مستقيمه وه او نورې کرښې کږې وږې او غير مستقيم وې. بيا يې وفرمايل: دا يوه لار، دا مستقيمه لار زما لار ده او باقي نورې هيڅ يوه زما لار نه ده.

ددې «راز» چې په قرآن کې ظلمت تل د جمعې په بڼه راغلی او نور په مفرده بڼه، هم همدا دی چې د ګمراهۍ او لاروکۍ لارې ډول، ډول او ډېرې دي خو د حق لار يوازې يوه ده. «اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ...» [بقره۲۵۷(۲:۲۵۷)] دلته د انبياو هدايت ته اړتيا روښانه کېږي ځکه هغه مستقيمه لار چې بشر نهايي کمال ته رسوي، انسان نشي کولی له هدايت پرته هغه تشخيص کړي بلکې اړين دی الهي استازي هغوی هدايت کړي.

په دې سورة کې د لارې لپاره د «صراط» کليمه راغلې نو اړينه ده چې پوه شو: صراط څه ته وايي؟؛ صراط لار ده، خو په قرآن کې نورې ډېرې کليمې د لارې معنا لري لکه؛ طريق، جاده او سبيل، مذهب او مسلک او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو صراط رومي کليمه ده ، د روميانو د ښـــارونو تر منځ په ډبرو فرش شـــوو پســـورورو او ارتو واټونو ته يې «ســـترات» ويل. چې عربي ژبې ته ننوتې ده. Street د هغې لاتيني نوم دی. چې يونــــــاني معادل يې «ســتراتو» دی؛ چې د لرغوني روم د امپراتورۍ، په ډبرو فرش شــوو پراخو واټونو [جادو] ته ويل کېده، لکه په ښارونو کې د اوسنيو سترو لارو په څېر. چې اصلي واټونو ته او د نن ورځې په تعبير عمومي او لويو سړکونو تــــه اطلاق کېږي. دا يوه داسـې اصـلي او مسـتقيمه لار ده چې موږ خپل لور ته جذبوي، نه پېچلې او لـــه کږليچونو ډکه لار چې مسافر ستړی، ستومانه او خسته کړي. د صراط په ريښه يې معنا کې چې [چې عربي ريښه يې له سين سره وه، يعنې له «سراط» څخه اخېستل شوې]، يو ډول جذب او جلب او له ستونې تېرول نغښتي دي. گواکې لاروی خپلې لور ته کشـوي او مقصـد ته يې نژدې کوي. نو که صراط، نيغ او مســـتقيم هم وي، د بنده او خالق تر منځ تر ټولو لنډه لار جوړوي. [له صـاد سره د طاء او راء د مخرجونو د نژدېوالي او په تلفظ کې د هغوی د تطابق له کبله، د سراط (س)، د صاد د آواز په بڼه اووښتی دی.]

لـه «صراط المستقيم» څخه مقصد لکه څنگه چې د قرآن حکيم له آيتونو استنباط کېږي، د توحيد لار، يعنې د «رب» پېژندنه او د هغه انحصاري عبادت دی. داسې عبادت چې ډېر کوچنی شرک او ناخالصـي هم پکې شتون ونلري. د «عبادت» معنا هم لکه څه ډول چې ژبـاړونکو په پښتو او فارسي کې ژباړلې دی، پرستش او نمانځنه نه ده. بلکې د تسليم او غاړې اېښوونې څخه يو حالت دی چې انسان خپل زړه او ځان بل ته رام کړی وي.

موږ هره ورځ لـه اوولسو ځلو زيات په خپلو پنځگونو نمونځونو کې له خدايه غواړو چې موږ صراط المستقيم ته هدايت کړي. آيا نبايد پوه شو څه ډول يوه لار له هغه غواړو!؟ که د صراط المستقيم په مفهوم پوه نشو، څه اغېز زموږ په ژوند کې اچوي؟ بايد له خدايه وغواړو چې د «منيّت او ځان غوښتنې» ناخالصی زموږ له زړه پاکې کړي او که د هغه په مسير کې اوسو، هر يو کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې د هغه د رضا په مسير او لارليک کې سر ته ورسوو چې نيکمرغی، سعادت، رستگاری او غوړېدا ته ورسېږو.

د داسې يو حالت ورتيا د پالونکي څښتن له ذات پرته بل هيڅوک [حتا اولوالعزم پيغمبران هم] نه لري او قرآن په دريو ځايونو کې، د حضرت عيسی بن مريم له ژبې، چې پلېونانو يې د هاغه حضرت او د هغه د آغلې مور «مريم مقدس» په ستاينه کې غُلو او زياتی وکړ او په تثليث او درېگونيتوب کې، د هغوی دواړو په نسبت او په نتيجه کې يې احبار او رهبان او د کليسا اربابانو ته «تعبد» وکړ، لاندينۍ جمله يې تر ټينگار لاندې نيولې او «صراط المستقيم» يې پکې څرگند کړی دی. «إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَـذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ...» «په تحقيق الله زما رب او ستاسو رب دی نو هغه ته [نه ما ته او نه نورو ته] عبادت وکړئ. همدا سمه لار ده...[آل عمران۵۱(۳:۵۱)] - [مريم۳۶(۱۹:۳۶)] - [زخرف۶۴(۴۳:۶۴)].

د خدای ژمنه له بنی آدم سره همدا «توحيدي عبادت» او د شيطان په نسبت له تعبده ځان ساتنه، او هغه د تحريکونو او وسوسو په وړاندې له لاابالي گری او بې پروايي او د نفس هویٰ ته له تن ورکولو او تسليمېدو څخه ځان ساتنه ده. د قيامت په ورځ کې له موږ پوښتنه کوي چې: ای د آدم زامنو، مگر له تاسو سره مې ژمنه او عهد نه وو تړلی چې شيطان ته رام او تسليم مه اوسئ، بلکې يوازې زما عبادت وکړئ [زړه مو بايد د حق منلو ته هموار اوسي]

«أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ. وَأَنِ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ.» [يس۶۰(۳۶:۶۰) او۶۱] «ای د آدم زامنو، مگر ما له تاسو سره عهد نه وو کړی چې د شيطان عبادت مکوئ، چې ستاسو ښکاره دښمن دی او دا چې يوازې زما عبادت وکړئ (چې) همدا سمه لار ده ؟»

[د انعام سورة ۱۵۲ او ۱۵۳ آيتونه هم د خدای له عهد او صراط المستقيم تر منځ اړيکه څرگندوي]. لکه څنگه چې وينئ، په پورتني آية کې يې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

«هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ» جملې له ذکر سره په ښکاره او په ډاګه يې سمه او مستقيمه لار چې همدا «د خدای خالصانه عبادت» دی، بيان کړې ده.

د حجر په ۴۱ آية کې هم خدای تعالی د ابليس په ځواب کې صراط المستقيم همدا «اخلاص په عبادت کې» نومولی دی:

«إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ. قَالَ هَذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ. إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ...» [حجر ۴۰(۱۵:۴۰)، ۴۱ او ۴۲] [همدا راز د اعراف ۱٦ آية].

قرآن د داسې يو عبادت اسوه او بېلګه د حضرت ابراهيم په کړنو کې، چې «ملةُابراهيم» نومول شوی، څرګند کړی او هغه يې ټېکاو «دين» نومولی دی:

«قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ» [انعام ۱٦۱(٦:۱٦۱)] «ووايه [ای پيغمبره] په تحقيق زه مې پالونکي څښتن سمې لارې ته هدايت کړی يم، ټېکاو دين چې د ابراهيم حنيف طريقه ده، چې هغه هيڅکله له مشرکينو نه وو».

کوم انسان چې په خپله اراده او اختيار وغواړي پر صراط المستقيم لاړ شي او دا د کمال صراط بشپړ کړي او په دې لار کې مخکې لاړ شي بايد له محيط او چاپيريال سره منطبق او جذب او له هغه سره منطبق نشي او پرله پسې خپل فکري او روحي چاپيريال ته تغير ورکړي او مستقيم خط ته ځان برابر کړي او له انحراف او کږېدنې فکر وکړي، چون پرله پسې له ګمراهۍ او غفلت سره مخامخ دی، دا دعا او غوښتنه بايد تل ولري، چې پخپله د هستۍ او کمال د مبدأ په ځانګړي او مخصوص مشيت او عنايت کې شامل شي.

د نور سورة ۴۵ او ۴٦ آيتونه، له ځو لنډو او جامعو جملو سره د حيات دورانونه او پړونه چې ميليونونه کلونه پرې تېر شوي له نظره تېروي چې د انسان ظهور او عقل او هدايت صراط المستقيم ته رسوي:

«وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

[نور۴۵(۲۴:۴۵) او ۴٦] او الله هر يو خوځنده [= هر يو ژوندی موجود] له اوبو وپنځوه، ځيني له هغو پر ګېډه پر لار ځي [= ښوئيږي]، ځېني يي پر دوو پښو پر لار ځي او ځيني پر څلورو[پښو پر لار ځي].الله هر هغه څه چې وغواړي [د خپلو نظامونو پر بنسټ] پيدا کوي. الله پر ټولو څيزونو قادر [= اندازه اېښوونکی] دی. په رښتيا مونږ څرګند آيتونه نازل کړل او الله هر هغه څوک چې وغواړي [=وړ يي وګڼي] سمې لارې [صراط المستقيم] ته هدايت کوي.

۲ - صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

۳ - غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿۷﴾

[لويه] لار [= واټ] د هغه کسانو چې هغوی ته دې نعمت ورکړی، نه د مغضوب شويو [= ستا تر غضب لاندې شوو] لار او نه د لار ورکو.

د «اهدنا الصراط المستقيم» دعا، ذهني او تجريدي جنبه لري، کوم توضيحات چې د «خدايي ژمنې» په اړه په قرآن کې راغلې، بيا هم له عقل او اند سره سروکار لري او د کم حوصله خلکو فهم ورته نه رسيږي. ددې لپاره چې حجت تمام شي او عيني مصداق او عملي نمونه يې وښوول شي، مونږ ته ښوونه کوي د هاغو کسانو لار چې له نعمته برخمن شوي دي ولټوو «صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ». يعنې که د علم اهل نه يو د معلمينو او ښوونکو کړنو ته پاملرنه وکړو. دا ذکر يې زموږ په خوله کې ايښې چې هره ورځ [لږ تر لږه اوولس ځلې په ورځينيو نمونځونو کې] د هاغې لارې د وهلو هيله وکړو چې نعمت ورکړل شوو کسانو وهلې ده.

يعني کېدی شي پوه نشو چې سمه لار [«صراط المستقيم»] څه څيز دی. هغه موږ پوه کوي چې «صراط المستقيم»، د هاغو کسانو لار ده چې هغوی ته يې نعمت ورکړی دی، زموږ ټول وجود د خدای تعالی نعمت دی [الهم ما بنا من نعمة فمنک]، منظور يې کوم کسان او کوم نعمت دی؟

د قرآن په دوو نورو آيتونو کې يې، هاغه کسان معرفي کړي دي چې خدای تعالی ورته خاص او ځانګړی نعمت ورکړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو هم د مریم سورة دی چې د لسو تنو پیغمبرانو د ایمان او اخلاص د پوړونو له یادوني وروسته، هغوی «هاغه کسان چې خدای تعالی هغوی ته نعمت ورکړی» معرفي کوي:

۱ – مریم ۵۸ آیة: «أُولَئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا...» [مریم۵۸(۱۹:۵۸)] هغوی هغه کسان دي چې خدای هغوی ته یې نعمت ورکړی دی: د آدم له زوزاته پیغمبران، له هاغو کسانو چې د نوح په کښتۍ مو سپاره کړل، د ابراهیم او یعقوب او د ټولو هاغو کسانو له زوزاته چې هدایت مو کړل او هغوی مو غوره کړل ....

بل یو د نساء سورة دی چې پر پیغمبرانو سربېره، صدیقین [د انبیائو رښتیني تصدیق کوونکي او پلیونان]، شهداء [د حق د لارې گواهان او د مکتب عملی بېلگې او نمونې] او صالحین [د فساد پر ضد د ټولنې اصلاح کوونکي او د امت نېکچاري] یې ورسره مل کړي دي:

۲ – نساء ٦۹ آیة: «وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا» [نساء٦۹(۴:٦۹)] – «هر څوک چې له خدای او رسوله اطاعت وکړي، نو دا راز کسان به له هاغه چا سره وي چې خدای هغوی ته نعمت ورکړی، له پیغمبرانو، صدیقینو، شهدائو او صالحینو. او څه ښه رفیقان [او ملگري] دي دوی!»

نو خدای تعالی دوی ته نعمت ورکړی دی: «مِنَ النَّبِيِّينَ»، له پیغمبرانو، «وَالصِّدِّيقِينَ» د پیغمبرانو تصدیق کوونکي. لکه: د موسی(ع) یاران، د عیسی(ع) حواریون، د اسلام د پیغمبر حضرت محمد(ص) اصحاب او د هغوی تابعین له وروستیو نسلونو څخه «وَالشُّهَدَاءِ» [د لید او ننداري وړ اسوه، الگو او مثالونه] هغه کسان چې د حق په لار کې د ځان او مال له فدا کولو سره د نورو لپاره موډل او مثال شوي دي. «وَالصَّالِحِينَ» اصلاحگران، د فساد د مختلفو ډولونو په وړاندي مبارزین، «وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا» هغوی څه ښه دوستان او ملگري دي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په نمانځه کې وایو؛ موږ د هغو کسانو لارې ته هدایت کړه چې هغوی ته دې نعمت ورکړی دی، داسې شخصیتونه په نظر کې راوړو.

رښتیا د خدای له نعمته برخمن کوم کسان دي؟ ... او ددوی لار کومه ده؟

که څه هم چې د پالونکي څښتن نعمتونـه راز راز او بېشمېره دي او برخمن یې ټول بندګان دي، خو قرآن په خاصه او ځانګړې توګه، غوره شوي بندګان د پالونکي څښتن د نعمتونو وړ معرفي کړي دي چې د «صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ» د پېژندنې لپاره ښه لارښود دی.

نو حقیقتاً په خپلو نمونځونو کې هغه مهال چې د «صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ» ذکر تکراروو، د انبیائو لړی، له خاتم پیغمبر(ص) او عیسی(ع) او موسی(ع) او ... تر نوح او آدم (علیهم السلام) را یاد کړو او د هغوی تصدیق کوونکي او رښتیني پلیونان، د اسلام د رسول اکرم له اصحابو [مهاجرین او انصار، د صُفې اصحاب، د بدر اصحاب] د عیسی بن مریم تر حوارییونو او د موسی سره د ملګرو مؤمنینو او د نورو پیغمبران تر اصحابو د خپل ذهن په ډګر کې په لیکه کړو او شهیدان، یعنې د حق شاهدان او د انبیاؤ د مکتب عملي بېلګې او مثالونـه، له پیغمبر وروسته د هغه له ریښتینو اصحابو او وروستیو پلیونانو، تابعینو او امامانو، د عیسی(ع) تصدیق کوونکي دولس حواریون، او دولس نقیبان چې خدای تعالی پر بنی اسرائیلو وګومارل. د مائده سورة (۱۲) آیت ته اشاره ده «وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا...» [ګواکې له «نقیب» څخه مقصد هماغه د بني اسرائیلو د دولس ګونو ټبرونه وي. نقیب هغه چا ته وایې چې د خلکو له ستونزو او د هغوی له روزګار او احواله آګاه دی او د هغوی پالنه او سروالي پر غاړه لري. ګواکې د هغوی پر اسرارو یې ژوره کنده وهلې یا یې ورته سمڅې وهلې او پر احوال یې پوه شوي دي.

ددې لپاره چې د پالونکي څښتن لاس او د نورو انبیائو رښتینی پلیونان مشـاهده کړو، او په پای کې صـالحین یعني د صـالح عمل وګړي او د ټولنیزو مفاسـدو پر وړاندې مبارزین او د مختلفو امتونو مصـلحین، له غزالي او سـید

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال او عبدو او اقبال او مودودي او ... شريعتي او طالقاني او د اسلامي امت له نورو احياگرانو نيولې تر د نورو سيمو د بيدارگرانو او د خدای واقعي بندگان د خپلې سينې په صفحه کې په ليکه کړو، له خپله نمونځه څه برخه او ونېه وړو؟.... د هاغو کسانو پر لاره چې هغوی ته نعمت ورکړل شوی دی، له داسې خرگندتيا او صراحت او ټينگار وروسته، د مقابل لوری، يعنې د خدای له خالص عبادت او صراط المستقيم ته د هدايت له نعمته محرومين هم را په زړه کوو او د هاغو کسانو له لارې چې د هغه په درشل کې غضب کړل شوي او له سمې لارې، لار ورکې شوي دي لېرې والی وکړو. لومړنی چې ايجابي جنبه لري د «ولايت» له مقولې او دويمی يې چې سلبي جنبه لري د «برائت» له مقولې دی. په دې ترتيب په همدې لنډيز کې د «تولی او تبری» دوه اړخونه په لنډ او کوټلي توگه زده کوو، چې کوم کسان دوست وگڼو او مينه ورسره وکړو او له کومو کسانو لېرې والی وکړو.

له کومو کسانو سره چې بايد مينه ولرو او د هغوی له لارې تبعيت او پليوني وکړو، ومو پېژندل، دادی اوس د هاغو کسانو نوبت دی چې بايد د هغوی بدې کړنې د خپل ځان د عبرت لپاره هنداره کړو او د هغوی په لار کې له پل ايښودو او تللو څخه ځان وساتو. «...غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ».

دا ډله يې په دوو څانگو ويشلې ده:۱- مغضوب عليهم، ۲ - ضالّين.

مفسرين وايي: «مَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ» پر يهودو اطلاق کېږي. چون په قرآن کې ۱۰ ځلې تکرار شوي دي چې بنی اسرائيل د نافرمانيو او دنياپالنو له لامله د خدای په غضب اخته شوي دي. او «ضَالِّينَ» هاغه مسيحيان گڼي چې له شرک سره په تثليث کې ښکارې لاړل. له دې تاريخي ښېلگو سره ښيا هم دا مصاديق پر موږ له تعميم کېدلو مانع نه دي، او کېدی شي پر موږ هم اطلاق شي، ځکه په قرآن کې د تېرو اُمتونو ذکر زموږ لپاره د انذار او خبرتيا لپاره دی او موږ ته دا را په گوته کوي که موږ هم د هغوی په څېر د کړنو او عملونو مرتکب شولو، زموږ سرليک هم د هغوی په څېر کېدی شي. په قرآن کې نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه ګاڼې لکه: شرک، ضلالت، نفاق، کفر او ... هم د مغضوب واقع کېدلو له موردونو ګڼل شوي دي. لکه د «فتح» په سورة کې الله تعالی فرمايي:

«وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ...» [فتح٦(٤٨:٦)]

«خدای تعالی منافقان او منافقاني او مشرکين او مشرکاني او هغوی چې د الله په اړه بد ګومان کوي تر خپل غضب لاندې نيسي، او پر هغوی لعنت کوي او له خپله رحمته يې لېرې کوي، او جهنم يې د هغوی لپاره چمتو کړی دی...»

نو که څه هم په روايتونو کې او تاريخي بڼه کې لومړنۍ دسته پر يهودو تطبيق شوې او دوهمه دسته پر نصارى تطبيق شوې ده، خو داسې برېښي دا انطباق ښايي د واضحو او څرګندو مصاديقو او د عمومي قاعدې د ښوولو لپاره ځانګړې او خاصه نمونه او بېلګه وي. البته بې شمېره آيتونه د يهود قوم پر مغضوب واقع کېدلو، د هغوی د غرور او دنيا پالنې او ځان وينۍ له لامله، دلالت کوي: لکه:

[بقره٦١(٢:٦١)] « ... وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ... »

[بقره٩٠(٢:٩٠)] «... فَبَاءُوا بِغَضَبٍ عَلَى غَضَبٍ ...»

[آل عمران١١٢(٣:١١٢)] «... وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ...»

[مائده٦٠(٥:٦٠)] «... مَنْ لَعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ...»

[مجادله١٤(٥٨:١٤)] «... أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ...»

خو په نورو ايتونو کې ډېری له ګناه ګانو يې، لکه: د مؤمن په عمد قتل، له جنګه تېښته، د زړه له تله د کفر لور ته لېوالتيا، شرک، په روزيو کې طغيان او سرکښي او داسې نور ... يې د الهي غضب د ګومارنې لامل ګڼلی دی.

سورتونه او آيتونه: [نساء٩٣(٤:٩٣)]، [انفال١٦(٨:١٦)]، [انفال١٠٦(٨:١٠٦)]، [طه٨٦(٢٠:٨٦)]، [اعراف٧١(٧:٧١)]، [طه ٨١(٢٠:٨١)].

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د «ضلالت» په اړه مسئله عامتره ده او نشي کېدی «ضالین» منحصراً یوازې هاغه مسیحیان وپېژندل شي چې د تثلیث په شرک کې له توحیده لېرې شول د قرآن په فرهنګ کې هر ډول خطاء، که څه هم وړه وي، لاروركي ګڼل کېږي. که څه هم له یو ستر او عظیم الشأن پیغمبر لکه موسی[ع] د رسالت له پړاوه مخکې سر وهلی وي، چې پخپله له شجاعت سره په صریحه لهجه اعتراف کوي چې د قبطي د قتل پر مهال له «ضالین» او لاروركو وو «قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ» [شعراء۲۰(۲۶:۲۰)]. دا مطلب څرګندوي چې ګمراهي او لاروركي یو نسبي چار دی او ټول له «صراط المستقیم» څخه په ځېنو موردونو کې منحرف او کاږه شوي یو او کږېږو. حتا د حضرت رسول اکرم[ص] په اړه چې د خدای تعالی د مخلوق بهترین او «رحمة للعالمین» دی او خدای تعالی د عظیم اخلاق په صفت ستایلې دی «وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ» [قلم۴(۶۸:۴)]. له رسالت څخه په مخکې پړاو کې له ورپسې پړاو په نسبت لاروركي او ګمراهي ګڼل کېږي. [البته نسبي، د خدای په نسبت] که څه هم دا تعبیر زموږ په زړه بنه نه لګېږي، خو قرآن دا حقیقت په صراحت بیانوي: «أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى. وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى» [ضحی۶(۹۳:۶) او۷]. آیا ته یې یتیم و نه موندې او پناه یې درکړه، او ته یې لاروركی و نه موندې او هدایت یې درته وکړ.

موږ که په خپلو نمونځونو کې د «مغضوب علیهم» او «ضالین» د ذکر پر مهال یوازې بني اسرائیل په نظر کې ولرو او خپل ځان، چې د پیغام اصلي مخاطبین یو، هېر کړو لکه د هغوی په څېر د غرور په غفلت کې اخته کېږو. سره ددې چې هغوی ددې حقیقت جوت او مشخص تاریخي مصداقونه دي، خو د قرآن په څرګندونه: «هغوی هاغه خلک ول چې د روزګار صحنه یې ترک کړه. د هغوی کړنې د هغوی په خپل حساب کې او ستاسو عملونه ستاسو په خپل حساب کې دي او تاسو د هغوی د کارونو مسئول نه یاست!».

«تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ». [بقره۱۳۴(۲:۱۳۴)]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سمه ده چې بايد تاريخي عبرت واخلو، خو دا انګيرنه او تصور بايد ونکړو چې د تېرو په قصو کې تم او متوقف شو او د قصې موخه چې د هغې په لغوي مفهوم کې، د پېژندنې او شناخت لپاره د تيرو او تللو د پل د ځای څار او پلټوني او د هغوی په اثارو او نښو کې حرکت دی، هېر نکړو.

نو له «مَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ» او «ضَّالِّينَ» څخه مقصد هر هغه څوک دی چې د خدای تعالی تر خشـــم لاندې وي او يا لار ورکي وي، دا که کفّار وي او که مشـركين او که فاسقان وي او که ستمګران، دا که کافر وي او که هاغه مسلمان چې د اسلام په نوم يې قناعت کړی او په واقعيت کې له اسلامه بې خبر دی، ځکه نمونځ ګزار بايد له دې غوښـتنې سره سم بايد لساناً، عملاً او فکراً د انبياو لار غوره کړي نه د نورو لار او بله دا چې په دې سـورة کې الهي اوصـاف او د بندګۍ ډنډې په خلاصه، کوټلې او لنډه توګه بيان شـوې دي او نور سـورتونه د همدې اجمال شرح او تفصيل دی.

د قرآن آيتونو ته ځرخنده ليد ځرګندوي چې د «ضلالت» او لاروركۍ تر ټولو ستر ډګرونه او زمينې په شرک او کفر او له شيطانه په پلټونۍ او له خدای او رسوله په سرغړونه او نافرمانۍ کې دي. په کوم نسبت چې له دې انحرافونو او بېلاريو مو واټن نېولی او توحيد او له رسوله تبعيت او پلټونۍ ته نژدې شوي اوسو د «ضلالت» له بريده مو د هدايت بريد ته حرکت کړی دی. لکه:

«... وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا»[نساء۱۱٦(۴:۱۱٦)]

«.. وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا».[نساء۱۳٦(۴:۱۳٦)]

«...وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ».[احزاب۳٦(۳۳:۳٦)]

«... وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا »[نساء۶۰(۴:٦۰)]

لنډه دا چې؛ موږ وايو خدايه زه د هاغو کسـانو لار چې سـتا له نعمتونو برخمن شـوي دي غواړم، هماغه د تاريخ ممتاز انسانان، له پيغمبرانو او له حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولیائو تر الګو ګانو او د انساني ټولنو برتر شخصیتونه. نه د هاغو کسانو لار چې خلاف او خطاګانې یې کړي او ستا خشم او غضب یې پارولی او بېلارې ته کښل شوي دي. ددې سورة په پای کې بهترینه دعا او غوښتنه، د هغه بیا ځلي قرائت له ډېر تدبر او پاملرنې سره دی. خدای تعالی دې زموږ شخصي او ټولنیز حال د حمد سورة په حال او هوا کې بدل او متحول کړي.

ټول قرآنکریم د الله تعالی خبره زمونږ سره ده، خو دا سورة زمونږ خبره له الله تعالی سره ده! ښايي همدغه لامل وي چې د حمد سورة هم د قرآنکریم برخه او هم له هغه څخه بیل دی. په نورو سورتونو کې الله تعالی له امتونو او انبیاؤ، راتلونکې او آخرت او له نیکو او بدو عملونو خبره کوي، خو په دې سورة کې را زده کوي چې مونږ څنګه له هغه سره خبرې وکړو.

په واقعیت کې دا سورة زموږ سترګې دریو اړخونو: د خدای الوهیّت، ربوبیّت او رحمانیت ته غړوي. په خپل راتلونکې نظر اچوو، په دې حقیقت پوهېږو چې زموږ دنیا او آخرت د هغه په لاس کې دي. د خپل خدای سره ژمنه کوو چې یوازې د هغه په نسبت رام او تسلیم اوسو او یوازې له هغه مرسته او ملتیا وغواړو، یوازې یوه غوښتنه او حاجت لرو؛ ته زما رهبر اوسه او ما ته ستا له خپله ځانه د پلیونی همت او توفیق راکړه. دعا کوو خدایه موږ ته توفیق راکړې چې ستا خالصانه عبادت وکړو، او یوازې له تا استعانت وکړو، موږ د پیغمبرانو او د هغوی د سپېڅلو پلیونانو او شهدائو او صالحینو لار ته هدایت کړې له بېلاریو، لارورکیو، او له هغه څه چې د هغه د غضب لامل کېږي لیرې شو.

آمین یا ربّ العالمین. صدق الله العليّ العظیم.

---

**یادونه**: ددې تشریح د لیکلو پر مهال لاندینیو سرچینو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لیکنه

۲ ـ آشنایي با قرآن ـ د مرتضی مطهري لیکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سید قطب لیکنه

۴ ـ تفهیم القرآن ـ د مولانا سید ابوالاعلی مودودي لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

٥ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه
٦ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرگان
٧ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
٨ – کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير – مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
٩ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
١٠ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او د ورسره علماو د پلاوي ليکنه
١١ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه
١٢ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه
١٣ ـ تفسير باران ـ د دوکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
١۴ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح
١٥ ـ تفسير ابن کثير ـ [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
١٦ ــ معارف القرآن – د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
١٧ – تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين – ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي – اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
١٨ ــ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
١٩ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قيام الدين کشاف
٢٠ ــ عزيزالتفاسير ــ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
٢١ ــ صفوةالتفاسير ــ د محمدعلي الصابوني ليکنه ــ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
٢٢ ــ د قرآن پلوشې ــ د ګلب الدين حکمتيار لېکنه
٢٣ ــ تفسير دېوبندي ــ د مولوي عبدالحنان لېکنه
٢۴ ــ حکمة القرآن ــ د مولوي امين الله پېښاوری لېکنه
٢٥ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لېکنه
٢٦ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
٢٧ ــ قرآن کريم په پښتو ــ د اجرالدين اقبال ژباړه
٢٨ـ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان ويب پاڼه [bazargan.com]
٢٩ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
٣٠ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز.
٣١ – روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی – العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمودالالوسی البغدادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲ ـ تفسیر جواهرالقرآن ـ مولانا حسین علي.

۳۳ ـ تفسیر روح البیان ـ شیخ اسماعیل حقی البروسوی.

۳۴ ـ «کنزالایمان او تفسیر نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بریلوي، تفسیر احمد یارخان نعیمي.

۳۵ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکریم ادبي او عرفاني تفسیر] خواجه عبدالله انصاري.

۳٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسیر] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي.

۳۷ ـ تفسیر الفخرالرّازی المشهور بالتفسیرالکبیر و مفاتیح الغیب، امام محمد الرازی فخرالدین.

۳۸ ـ التّفسیرالمبین ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفیسه.

۳۹ ـ تفسیر قرطبی ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پیرمحمد کرم شاه.

۴۰ ـ المفصل في تفسیرالقرآن الکریم ـ المشهور بتفسیرالجلالین ـ للامام جلال الدّین المحليّ والامَام جلال الدِّین السّیُوطيّ.

۴۱ ـ «سیر تحوّل قرآن» ـ مهندس مهدي بازرگان.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**